# كيفية صلاة النبي ﷺ

تاليف : سماحة الشيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله

مع رسالة

# أخطاء المصلين

تاليف : الشيخ مشهور بن حسن آل سلمان

## دپيغمبر ﷺ دلمانځه طريقه

**ورسره**

## دځني لمونځ كونكو غلطياني

ترجمه

عبد الرحيم سلطان

ناشر
جالياتو د دعوت او ارشاد لپاره مرستندويه مكتب ربوه – رياض

بسم الله الرحمن ا لرحیم

## د پیغمبرﷺ د لمانځه طریقه

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علیٰ عبده و رسوله محمد واله وصحبه أما بعد !

دنبي کریم ﷺ دلمانځه دطریقې په اړوند دا یوڅو مختصري خبري هریو مسلمان سړي او ښځې ته یي ددي لپاره وړاندې ( پیش ) کوم چه دا ولولي او کوشش اوکړې چه په لمانځه کښې دپیغمبرﷺ متابعت او پیروي اوکړې ، لکه څنګه چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: «صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي». زه مو چه په کومه طریقه په لمونځ کولو لیدلی یم په هماغه طریقه لمونځ اوکړئ . ( بخاری:٦٣١ ) .

Download From; Aghalibrary.com

محترمو ورونو دادی د لمانځه د طریقې بیان -

١ - په کامله توګه اودس کول

یعني په کامله توګه به اودس اوکړې ، لکه څنګه چه په قران کښې د الله تعالی حکم دی،الله تعالی فرمایلي دي : (يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى ٱلْمَرَافِقِ وَٱمْسَحُواْ بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى ٱلْكَعْبَيْنِ ۚ ( المائدة: ٦)

ای مؤمنانو کله چه تاسي پاڅیږي لمانځه ته پس ووینځئ خپل مخونه اوخپل لاسونه سره دڅنګلو نه اومسحه وکړئ په خپلوسرونوباندې او ووینځئ خپلې پښې سره دګټکیونه. اوهمدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي :« لاَ تُقْبَلُ صَلاَةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ » دپاکۍ ( اوداسه ) څخه پرته لمونځ نه قبلیږي . ( صحیح مسلم: ٢٢٤) .

*Download From; Aghalibrary.com*

همدارنګه نبي کریم ﷺ هغه کس ته فرمایلي وو کوم چه لمونځ په بیړه کولو : « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاَةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ». صحیح بخاری:٦٢٥١) .

هر کله چه د لمانځه اراده اوکړې ، نو په کامله توګه اودس اوکړه .

٢- قبلې لوري ته مخ کول ، نیت کول ، او خپلې مخې ته ستره کیښودل :

لمونځ کونکی ( هر چیري چه وي ) په ټول ځان ( بدن ) سره به دقبلي (کعبي ) لوري ته مخ کړې او په زړه سره به د هغه لمونځ نیت او اراده اوکړي کوم چه ادا کوې ،فرض لمونځ وي او که نفل ، او په ژبه باندې به د نیت الفاظ نه وایي ، ځکه چه دا کار ناروا او بدعت دی ، پیغمبر ﷺ او دهغه اصحابو ( ملګرو ) نه دی کړی .

Download From; Aghalibrary.com

او که چیري لمونځ کونکی امام وو ، او یا یي تنها (یوازې) لمونځ کاوو ، نو مخې ته یي باید ستره یعني داسې یو څیز وي چه لمونځ ورته اوکړې ، ځکه چه نبي کریم ﷺ ددې امر کړی دی .
په لمانځه کښې قبلې لوري ته مخ کول شرط دي پرته د یو څو ځرګنده مسائلو (حالاتو) څخه چه علماو دهغې وضاحت په خپلو کتابونو کښې کړی دی.
فائده: هغه کسان چه قبلې لوري ته مخ کولو نه عاجز وي ، لکه هغه څوک چه په زولنو کښې تړل شوی وي او دقبلې لور ته مخ کولو نه عاجز وي ، او هغه څوک چه دسخت جنګ په حالت کښې وي، او همدارنګه هغه څوک چه د سیلاب ، اور ، دښمن ، وغیره نه د تیښتې په حالت کښې وي ، او نشې کولای چه قبلې لوري ته مخ کړې ، او همدارنګه هغه سخت بیمار چه د قبلې لور ته د مخ کولونه عاجز وي ، ددې ټولو نه

Download From; Aghalibrary.com

داحکم ( قبلې لورته مخ کول ) ساقط دی ، بلکه دوي به د خپل طاقت سره سم هر لورته چه اوغواړي لمونځ ادا کولای شي، ځکه چه الله تعالی فرمايلي دي (فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ ( التغابن:١٦) ویره کوئ د الله تعالی نه څومره چه ستاسو وس رسیږي .

۳- د لمانځه د پیل ( شروع ) تکبیر ( الله اکبر ) ویل لمونځ کونکی به د لمانځه د پیل ( شروع ) تکبیر ( الله اکبر ) اووایي ، او د سجدې ځاي ته به ګوري

۴ - رفع الیدین ( لاسونه د غوږونو یا تر اوږو برابر پوري پورته کول : لمونځ کونکی به د تکبیر ( الله اکبر) ویلو په وخت خپل لاسونه د غوږونو او یا د اوږو تر برابر پوري پورته کړي .

Download From; Aghalibrary.com

**٥- سینه باندي لاسونه کیښودل :**

**دواړه لاسونه به په سینه باندې کیږدي ، او ښي لاس به يي د کیڼ ( چپ) لاس د څپرې ( ورغوي ) مړوند او څنګلو دپاسه وي ، ځکه چه د نبي کریم ﷺ څخه همدا ډول ثابت دي ، په حدیث د وائل بن حجر او قبیصه بن هلب رضي الله عنهما کښې .**

**٦- داستفتاح ( دلمانځه دپیل ( شروع ) دعاګاني:**

**سنت ده ، چه د لمانځه د پیل (شروع) دعا ولولي ، او هغه دادعا دا ه :** « اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ اغْسِلْنِي مِنْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ» -

**ای الله ! له ما څخه زما ګناهونه دومره لري کړې ، لکه شرق او غرب دې چه له یو بل څخه لري کړي دي ای الله ! ما له ګناهونو څخه داسي پاک کړه ، لکه سپینه جامه چه د خیري څخه پاکه شي ، ای الله ! ما**

Download From; Aghalibrary.com

له ګناهونو څخه په اوبو او واوره او ږلۍ سره ووminځه ( پاک ) کړه ! ( صحیح بخاری: ٧٤٤ ، صحیح مسلم:٥٩٨)

او که اوغواړي ، دهغې پرځاي دې دا دعا ووايي :

«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلاَ إِلَهَ غَيْرُكَ ». اى الله ! ته پاک يې ، او ستا ثنا وايو ، او ستا نوم مبارک ( برکت والا دی ) او ستا شان لوړ او اوچت دی ، او ستانه پرته بل هيڅوک د عبادت او بندګۍ مستحق نشته .

( سنن ابوداود:٧٧٥، سنن الترمذی:٢٤٢، سنن ابن ماجہ:٨٠٤، حم٣/٥٠)( صحيح ،ارواء الغليل:٣٤١) .

اوکولاي شي د دي دواړو دعاو پرته بله د استفتاح لمانځه د پيل داسي کومه دعا ولولي چه دنبي کريم ﷺ نه ثابته وي ، او بهتره داده چه کله يوه او کله بله دعا ووايي ، ځکه چه په دې کښې پوره متابعت او پيروه وي ده .

Download From; Aghalibrary.com

**تعوذ ، تسمیه ، او سورت فاتحه لوستل :**

**او له هغي وروسته به** ( أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ **زه په الله تعالى پوري د شيطان رټلى شوي نه پناه غواړم .**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ». **په مدد دنوم د الله تعالى چه عام مهربانه دى ، او خاص مهربانه دى شروع كوم او بيابه سورت فاتحه ولولي ، ځكه چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي** :«لاَصَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ» **د هغه چا لمونځ نه كيږي ، چه سورت فاتحه په كښې ونه لولي . (صحيح بخارى: ٧٥٦، صحيح مسلم: ٣٩٤) .**

**د سورت فاتحې لوستلونه روستو به په جهري لمانځه كښې ، په لوړ اواز او په سري لمانځه كښې په ټيټ** ( **سوكه** ) **اواز سره ( آمين ) اووايي .**

**فائده : جهري لمونځ هغه لمونځ وي په كوم كښې چه قرائت په لوړ اواز سره لوستل كيږي ، او سري لمونځ**

*Download From; Aghalibrary.com*

هغه وي ، په کوم کښې چه قرائت په ټيټ ( سوکه ) اواز سره لوستل کيږي .

او بيا به هغه سورت يا اياتونه ، چه ورته اسان وي ولولي ، بهتره داده چه له فاتحې وروسته د ماسپښين مازديګر او ماخوستن په لمونځونو کښې له ( اوساط المفصل ) سورتونو څخه او دسهار په لمانځه کښې د ( طوال المفصل ) او دماښام په لمانځه کښې ، کله د ( طوال المفصل ) او کله د ( قصار المفصل ) سورتونو څخه ولولي ، تر څو په هغه احاديثو باندي عمل اوکړی شي ، کوم چه دې باره کښې د نبي کريمﷺ نه نقل دي .

فائده : د سورت ( حجرات ) نه تر سورت ( بروج ) پوري سورتونو ته ( طوال المفصل ) او د هغي نه تر سورت ( البينة ) پوري سورتونو ته ( اوساط المفصل ) او د هغي نه تر پايه پوري سورتونو ته ( قصار المفصل ) سورتونه وايي .

Download From; Aghalibrary.com

۷- په لمانځه کښې درکوع کولو طریقه او دهغې دعا :
رکوع به په داسې حال کښې کوي ، چه الله اکبر به اووايي ، او لاسونه به د اږو یا غوږونو تر برابر پورې پورته کړې .
او سر به د رکوع په حالت کښې د شاه سره برابر ساتي ( ښکته ، او یا پورته به يې نه نیسي ) او دواړه لاسونه به په زنګنونو باندي داسي کیږدي چه ګوتې به يې کلاو ( پراخه ) وي .
او رکوع کښې به د اطمئنان او ارامۍ څخه کار اخلي یعني بیړه به نه کوي ، او دا دعا په کښې ولولي «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ» زما لوي پر ور دګار پاک دی .
او بهتره داده چه دا دعا درې یا ډیر کرته ولولي ، او مستحب ده چه دادعا ورسره هم ولولي :
«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»
الهي ته پاک ذات يې او ستا ثنا وایم الهي ماته ښښنه اوکړې .

Download From; Aghalibrary.com

٨- درکوع نه سر راپورته کولو طريقه او دهغي دعا :
بيابه د رکوع نه سر راپورته کړې په داسي حال کښې چه دواړه لاسونه به داړو يا غوړږونو تر برابر پورته کړې ، او که امام وو ، او يا يي تنها لمونځ کاوو ، نو داسې به اووايي : «سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» الله تعالى د هغه چا اواز اوري چه دد ه حمد او ثنا اووايي .
او د ولاړي په حالت کښې به دا دعا ولولي «رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، مِلْءَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ» الهى تالره ستاينه ده پوره ډيره زياته پاکه اومبارکه الهى تالره پوره ستاينه ده داسمانونو اود ځمکې اودهغوي ترمينځ دمخلوق د ډکوالي په اندازه اوپه اندازه دډکوالي دهغه شيانوچه تا ورسته غوښتي دي ( صحيح مسلم :٤٧٦) -
او که چيرته مقتدي يعني امام پسي يي لمونځ کاوو نو بيابه د رکوع څخه دراپورته کيدو په وخت دا دعا تر

Download From; Aghalibrary.com

پایه پوري ولولي : ( ربنالك الحمد) الهی تالره ستاینه ده .

او که چیري دوي ( امام ، مقتدي ، او تنها لمونځ کونکي ) د تیر ذکر څخه روستو دا دعا هم ولولي نو ښه به وي: «أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، اللَّهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» ای دستا یني او لويي خاونده کومه رښتني خبره چه بنده کړیده داده اومونږ ټول ستا بنده ګان یو الهی ته چه څه چاته ورکړي دهغې څوک بنده ونکی نشته او ته چه څه له چانه بند کړي دهغې څوک ورکونکی نشته اوفایده نه ورکوي ما لدار لره مال دهغې ستا دعذاب نه ، ځکه چه دادعا هم دپیغمبرﷺ نه ثابته ده (صحیح مسلم : (٤٧٧)

او مستحب ده چه لمونځ کونکي ( که امام وي ، يا مقتدي ، يا تنها لمونځ کونکی وي ) چه په دي حالت کښې هم لاسونه په سينه باندي کيږ دي ، لکه څنګه چه يي درکوع نه مخکې لاسونه په سينه باندي کيښودل ، ځکه چه د پيغمبرﷺ څخه د وائل بن حجر او سهل بن سعد رضي الله عنهما په حديث کښې ددي خبري دليل او ثبوت شته .

فائده : درکوع نه روستو په سينه باندي لاسونه کيښودل دشيخ ابن باز رحمه الله موقف دی ، او ددي مذکوره حديث څخه يي استدلال کړی دی ، او دحجاز بعضي علماو همدا قول غوره کړي ، ليکن ددي په خلاف باندي د جمهورو علماو وينا داده ، چه درکوع نه ورستو د لاسونو ښکته زوړند نيول مستحب دي ، او همدا قول علامه الباني رحمه الله غوره کړی دی د وضاحت لپاره (الصحيحه: ٢٢٤، صفة صلاة النبی،ص: ١٢٠-١٢١) اوګوری .

## ٩- لمړۍ سجده

سجده به کوي ، په داسي حال کښې چه الله اکبر به اووايي ، او که کولای شي نو زنګنونه به د لاسونو نه مخکښې زمکې ته يوسي ، او که دا ورته سخته وه نو بيا دې لاسونه د زګنونو نه مخکښې زمکې ته يوسې اودلاسونو ګوتي به يوبل ته نيږدې او پرانستلي ساتي او په لاندي اووه اندامونو به سجده اوکړي ، تندی له پوزي سره ، او دواړه لاسونه ، او دواړه زنګنونه ، او ددواړو پښو د ګوتو لاندي طرفونه ، او په سجده کښې به دا دعا لولي : «سُبْحَانَ رَبِّيَ الأَعْلَى» پاک دی زما لوې پروردګار

او مستحب ده چه دا دعا دري ځله يا ددي نه هم زياته تکرا کړې .

فائده : سجدي ته د تللو په وخت کښې لاسونه د زنګنونو نه مخکې په زمکه کيښودل افضل دي ، او په دې کښې د اساني او سختي قيد نشته ، ځکه چه په

مستدرک د حاکم کښې د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما حدیث (٢٢٦١) او په سنن نسائي (١٠٩١) وغیره کښې د ابو هریره رضي الله عنه حدیث په قوي سندونو سره ذکر دی او ددي حدیثونو نه معلومیږي چه پیغمبرﷺ سجدي ته د تللو په وخت خپل دواړه لاسونه د زنګنونو نه مخکښې په زمکه کیښودل ، او دا دواړه حدیثونه صحیح دي ، او ددي په خلاف په سنن ابي داود کښې د وائل بن حجر رضي الله عنه حدیث په کوم کښې چه د زنګنونو د لاسونو نه مخکښې په زمکه کیښودلو ثبوت ملاویږي ، هغه حدیث کمزوری دی او ددي وضاحت علامه الباني رحمه الله په ( سلسلة الاحادیث الضعیفة(٩٢٩) اور ارواء الغلیل(٣٥٧ ) کړی دی او مستحب ده چه دا دعا ورسره هم ولولي :«سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» ای زمونږ ربه تا په پا کی سره یادوم اوتا لره ستاینه کوم الهي ماته ښنه وکړي .

دسجدې په حالت کښې ډيري دعاګانې غو ښتل پکار دي ، ځکه چه پيغمبرﷺ فرمايلي دي :
«فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ، وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ، فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ».
په رکوع کښې د پر ور دګار لويي بيان کړئ ، او په سجده کښې د دعا کولو کوښښ او خواري اوکړئ اميد دی چه دعا ګاني به مو قبولي شي . (مسلم : ٤٧٩) .
او همدارنګه پيغمبرﷺ فرمايلي دي : «أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ». (مسلم ٤٨٢) بنده خپل رب ته د سجدي په حالت کښې ډير نيژ دي وي ، نو دسجدي په حالت کښې د ډيرو دعاګانو کوښښ اوکړئ .
او همدارنګه لمونځ کونکی بايد د سجدې په حالت کښې کوشش اوکړې چه دخپل ځان او نورو مسلمانانو لپاره د الله تعالی څخه د دنيا او اخرت خيرونه اوغواړي ، که فرض لمونځ وي او که نفل ، او دواړه

متې به د بغلونو ( تخر ګونو ) څخه او کیدړه به د وره نونو څخه او وره نونه به د پنډیو څخه بیرته ( لیري ) ساتي . او همدارنګه څنګلي به د ځمکې سره نه لګوي بلکه پورته به يي نیسې ، ځکه پیغمبرﷺ فرمایلي دي : «اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، وَلاَ يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ». په سجده کښې خپل ځانونه ښه برابروئ ، او دسپي په شان خپلي څنګلي په ځمکه مه غوړوئ . (بخاری:٨٢٢،مسلم :٤٩٣) .

١٠- د دوو سجدو په مابین کښې د کیناستلو طریقه

دسجدې څخه به سر راپورته کړئ په داسې حال کښې چه الله اکبر به اووايي ، او چپه پښه (قدم ) به څملوي ( هوار کړې ) او ور باندې به کیښني ، او ښي پښه ( قدم ) به ودروي ، او لاسونه به په وره نونو او زنګنونو باندې کیږ دي ، او دا دعا به لولي : « رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي، وَعَافِنِي، وَاجْبُرْنِي »

ای زما ربه ماته ښښنه وکړه او را باندي مهربانه شه اوماته هدایت وکړه او ماته روزي راکړه اوماته عافیت راکړې او زما نقصانات پوره کړه . (ابوداود: ۸۵۰) (ترمذی:۲٦۷) (ابن ماجہ: ۸۹۸) حسن

او په ارا م سره به کښیني ، بیړه ( تیزي ) به نه کوي تردي چه هر جوړ خپل ځاي ته ورسیږي ، لکه څنګه چه درکوع نه روستو د ولاړي په حال کښې په ارام سره ودریږي تر څو هر جوړ خپل ځاي ته ورسیږي ځکه چه پیغمبرﷺ به د رکوع نه روستو په ارام سره ودریده ، چه تقریبا مقدار به یي د رکوع برابر وو او همدارنګه د دوو سجدو په مابین کښې به په ارام سره کیناست چه مقدار به یي تقریبا د سجدې برابر وو . ( بخاری: ۷۹۲، مسلم : ٤۷۱ ) .

۱۱- دوهمه سجده

بیا به الله اکبر اووایي ، او دوهمې سجدې ته به لاړ شي او د لمړۍ سجدې په څیر به دوهمه سجده اوکړې .

**۱۲- دوهمې سجدې نه روستو کیناستل**

**بیابه تکبیر** ( **الله اکبر ووایي** ) **او سر به دسجدې څخه راپورته کړې ، او دوو سجدو ترمینځ ناستې پشان به لږ غوندي کښیني او دې ناستې ته دفقهاو په اصطلاح** ( **جلسة الاستراحه** ) **وایي ، او د استحباب په درجه کښې مشروع ده که چا ونه کړه باک نلري او همدارنګه په دې ناسته کښې کومه دعا ذکر وغیره هم نشته .**

**بیابه دوهم رکعت ته پاڅیږي ، په داسې حال کښې لاسونه به یي په زنګنونو تکیه کړي وي ، او چه کله پاڅیده ، نو فاتحه** ( **الحمد لله** ) **او ورسره به کوم سورت یا هغه ایاتونه چه ورته اسان وي ولولي ، او دا رکعت به هم دلمړي رکعت په څیر اوکړي .**

**فائده**: **دوهم رکعت ته د پاڅیدلو په وخت کښې لاسونه په زمکه تکیه کول سنت دي ، ځکه چه دا دپیغمبرﷺ نه ثابت دي ، لکه په** صحیح بخاری (**۸۲٤**) **او** سنن نسائی (**۱۱٥۳**) **کښې دمالک بن**

حويرث رضي الله عنه حديث په دې خبره واضح او ښکاره دليل دی،او ددې په خلاف هغه حديث کوم چه په دې دلالت کوې چه لاسونه بايد په زنګنونو کيښودل شي ضعيف او کمزوری دی پوره تفصيل د علامه الباني په کتاب سلسلة الاحاديث الضعيفة (۹۲۹) اوارواء الغليل (۳۵۷) کښې کتلی شې

۱۳- دتشهد طريقه په دوه رکعتي لمونځ کښې .

که چيرته لمونځ دوه رکعتي وو ، لکه د سهار ، جمعي او اخترونو لمونځ ، نو له دوهمې سجدې وروستو به داسې کښيني ، چه د ښې پښې قدم به ودروي ، او دچپې پښې قدم به هوار کړي ، او په هغې به کښيني او خپل ښې لاس به په ښې ورانه کيږدي ، او د اشاري له ګوتي پرته به دلاس نوري ټولې ګوتي را بندي کړي ، او په دې يوه ګوته به د الله تعالی د توحيد اشاره کوي ، او بله طريقه داهم ده ، چه د ښې لاس کوچنۍ او ورسره دوهمه ګوته رابندې کړې او د مينځ

ګوته د غټې ګوتې سره يوځاي کړې کړي ، او په سونډه ګوته باندې دالله تعالى د توحيد اشاره اوکړي ځکه چه دا طريقه هم د پيغمبرﷺ نه ثابته ده .

او بهتره داده ، چه کله په يوه طريقه عمل اوکړى شي او کله په بله ، او خپل چپ لاس به په خپل چپ ورانه باندې کيږدي ، او له دې وروستو به بيا د اتشهد اووايي : «التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّه وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّه الصَّالِحِيْنَ، أشْهَدُ أنْ لاَ إلَهَ إلاَّ اللّه، وَأشْهَدُ أنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ» ټول ژبني او ما لي او بدني عبا د تونه الله جل جلاله لره دي سلام او دالله رحمتونه اوبر کتونه دي وي په تا اى پيغمبره سلام دي وي په مونږ او دالله په نيکو بنده ګانو باندې زه ګواهي ورکوم چه بيله الله جل جلاله بل څوک دعبا دت لا ئق نشته ،

اوزه ګواهي ورکوم چه محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او پيغمبردى . ( بخارى : ٨٣١، ١٢٠٢ ، ٦٣٢٨، ٧٣٨١، مسلم : ٤٠٢) .

**بيابه دا درود ولولي** «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيْمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ». **الهي په محمد صلی الله عليه وسلم اوپه ال د محمد صلی الله عليه وسلم رحمتونه را وليږه لکه څنګه چه دې په ابراهيم عليه السلام او دهغي په ال رحمتونه را ليږلي وو په رښتيا سره ته ستا يلی شوی اود لويي خاوند يي الهي په محمد صلی الله عليه وسلم او په ال د محمد صلی الله عليه سلم باندي برکتونه راوليږه لکه څنګه چه دي په ابراهيم عليه السلام او دهغه په ال با ندي برکتونه**

**راليږلي وو په رښتيا سره ته ستا يلی شوی اود لو يی خاوند يی.**

( بخاری : ۳۳۷۰، ٤۷۹۷، ٦۲٥۷، مسلم: ٤۰٦ )

**او بيا به ددي دعا په ويلو سره د څلورو څيزونو نه پناه اوغواړي** : «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ» **الهي زه په تا سره دعذاب دجهنم نه پناه غواړم او دقبر دعذاب نه پنا ه غواړم او د ژوند او د مرګ دفتنونه پناه غواړم او د دجال دفتني دشر نه پنا ه غواړم .** (مسلم :۵۹۰) **او ددي نه روستو بايد د الله تعالی نه د دنيا او اخرت خيرونه اوغواړي ، فرض لمونځ وي او که نفل وي ، او دخپل مور او پلار او نورو ټولو مسلمانانو لپاره د الله تعالی نه دعا اوغواړي باک نلري ، ځکه چه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په حديث کښي کله چه ورته پيغمبرﷺ تشهد وروښود دا وينا عامه ده :**

«ثُمَّ لِيَتخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُو». په يو بل لفظ کښې دي : « ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ » .

بيا يي چه کومه دعا خوښه شي د الله نه دي اوغواړي .

پـه دې دواړه روايتونو کښې دپيغمبرﷺ وينا عامـه ده ټولو هغه دعاګانو ته شامليږي ، کومو کښې چه ددنيا او اخرت خير وي . ( بخاری:٨٣٥، مسلم :٤٠٢) .

بيا به په اخره کښې ښي او چپ لوري ته سلام اوګرځوي ، او د سلام الفاظ به اووايي ( السلام عليكم ورحمة الله ) سلامتيا او دالله تعالى رحمت دې وي په تاسوباندي

١٤- د تشهد طريقه په دري رکعتيز او څلور رکعتيز لمانځه کښې

که چيرته لمونځ دري رکعتي وي ، لکه د ماښام ، او يا څلور رکعتي وي ، لکه د ماسپښين ، مازديګر ، او ماخوستن لمونځونه ، نو مخکي ذ کر شوی تشهد او درود به اووايي بيابه دريم رکعت ته پاڅيږي

**او دپاڅیدو په وخت به لاسونه په زنګنونو تکیه کړې او همدارنګه دواړه لاسونه به د اوږو یا غوږونو برابر پورته کړي ، او الله اکبر به اووایي ، او لاسونه به په سینه کیږدي، لکه څنګه چه مخکي ذکر شو او بیاڅي فاتحه به ولولي .** - (بخاری: ۷۵۹، مسلم: ٤٥١) -

**او که دماسپښین لمانځه په دریم او څلورم رکعت کې د سورت فاتحي نه روستو څه سورت وغیره ولوستلو باک نلري ، ځکه چه دابو سعید رضي الله عنه په حدیث کښې چه د پغمبر ﷺ نه یي نقل کړی دی ددي ثبوت شته .** ( مسلم : کتاب الصلاة ٤٥٢) -

**په لمړي تشهد کښې درود ویل مستحب دي واجب نه دي ، نو که په اولني تشهد کښې چا درود ونه لوست باک نلري .**

بیابه د ماښام لمونځ له دریم رکعت ، او د ماسپښین او مازدیگر لمونځ له څلورم رکعت وروسته همغه رنګ تشهد ولولي ، کوم چه په دوه رکعتي لمونځ کښې ذکر شو، او بیا به په نبي کریم ﷺ باندي درود ووایي اوهمدارنګه به د جهنم دعذاب ، او دقبر دعذاب او دژوند، او مرګ ، او د دجال دفتنونه په الله تعالی پوري پناه اوغواړي .

او باید ده چه له دي ورستو د نورو دعاګانو کوښښ اوکړې ، په دې ځاي کښې او همدارنګه ددي سوا په نورو ځایونو کښې دادعا هم مشروع ده :

«رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». - ای ربه ځمونږ : راکړې مونږ ته خوشحالي په دنیا کښې په نیک عمل سره ، او راکړې مونږ ته خوشحالي په اخرت کښې په جنت سره او بچ اوساتي مونږ د اور دجهنم نه .

دا خبره واضحه ده ، چه په دري رکعتي، لکه د ماښام لمونځ او څلور رکعتي لکه د ماسپښین ، مازدیګر ، او ماخوستن لمونځ ، په دې لمونځونو کښې دوه تشهده دي ، او د دوهم تشهد دکیناستلو طریقه دلمړي تشهد دکیناستلوڅخه جداده هغه داسي چه په دوهم تشهد کښې به لمونځ کونکی خپله ښی ښپه ودروي او چپه ښپه به د ښی ښپي نه لاندي اوباسي ، او په زمکه به کښیني ، لکه څنګه چه په حدیث د ابو حمید رضي الله عنه کښې چه امام بخاري نقل کړی دی ذکر دي . ( صحیح بخاری: (٨٢٨) .

او بیا به ښي او چپ طرف ته سلام وګرځوي او ( السلام علیکم ورحمة الله ) به ووایي .

سلامتیا او دالله تعالی رحمت دې وي په تاسوباندي .

**د سلام ګرځولو نه رو سته ذکر او دعاګاني :**

**دري ځله** « أَسْتَغْفِرُ اللّٰه » **ویل : زه د الله تعالی څخه ښنه غواړم .**

«اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ، وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰه وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللّٰهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ. (بخاری : ۸٤٤ ، ٦٣٣ ، مسلم : ٥٩٣)

**الهي ته له ټولو عیبونو نه پاک یي، او سلا متیا ستا له طرفه ده بر کتناک ذات یي اود لو یي اوعزت خاوند یي بیله الله نه بل هیڅوک دعبادت لائق نشته یو دی شریک نلري ده لره دکائناتو با دشا هي ده اوده لره پوره ستاینه ده اوهغه په هرڅه قا در دی الهي چاته چه څه ورکړې دهغي منعه کونکی نشته اوچانه چه څه منعه**

کړې دهغې ورکونکی نشته او فایده نه ورکوی مالدارته مال دهغې ستا د عذاب نه .

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّه وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّه، وَلاَ نَعْبُدُ إِلاَّ إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّه، مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ، وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ». (مسلم : ٥٩٤ )

بیله الله نه بل هیڅوک دعبادت لائق نشته یو دی شریک نلري ده لره دکائناتو با دشا هي ده اوده لره پوره ستاینه ده اوهغه په هرڅه قا در دی هیڅ قوت نشته دګناه نه دساتلواود نیکیوپه کولومګر په الله سره بیله الله نه بل څوک دعبادت لائق نشته اوبیله له هغه نه دبل چا بندګي نه کوو نعمتونه اواحسانات دهغه له طرفه دي اوهغه لره غوره ستاینه ده بیله الله نه بل څوک دعبادت لائق نشته په داسې حال کښې چه بندګي مو هغه لره خاص ده اګرچه کافران یي بده ګڼي

**ددي نه ورسته به دري ديرش ځله** « سُبْحَانَ اللّٰهِ » **اودري ديرش ځله** « الْحَمْدُ لِلَّهِ » **اوڅلور ديرش ځله** « اللّٰهُ أَكْبَرُ » **وايي ، دا ټول نه نوي ځله شو او دسلم ځل پوره كولو لپاره به يو ځل** «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّٰه وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» **وايي** (مسلم : ۵۹۷) .

**او همدا راز به دهر لمانځه څخه وروسته ايت كرسي هم لولي** : ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَيُّ ٱلْقَيُّومُ ۚ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ۚ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ ۚ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ ۚ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا ۚ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ " [البقرة: ۲۵۵].

**بیا سورت اخلاص**: قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ " [الإخلاص: ۱ -٤]

**بیا سورت الفلق**: قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ "[الفلق: ۱ – ٥].

**بیا سورت الناس**: قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ ٱلنَّاسِ ٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ " [الناس: ۱ – ٦]

**دا دري سورتونه به د هر لمانځه نه روستو يو ځل لولي او د سهار او ماښام لمونځونو نه روستو به يي دري دري ځله لولي، ځکه چه د نبي کريم ﷺ څخه په دي هکله احاديث روايت شوي دي .**

**ددې نه روستو به دا دعا لس ځله ووايي :** «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّه وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» **ځکه چه دا دعا هم د نبي کريم ﷺ څخه نقل ده .**

**دلمانځه نه وروستو دا اذکار لوستل سنت دي ، فرض نه دي .**

## سنن رواتب ( سنت لمونځ )

د هر مسلمان سړي او ښځي لپاره باید ده چه دماسپښنین د لمانځه نه مخکې څلور رکعته ( سنت ) او روسته یي دوه رکعته ، او دماښام د لمانځه ورسته دوه رکعته ، او همدارنګه د ماسختن د لمانځه نه وروسته دوه رکعته ، او د سهار دلمانځه مخکې دوه رکعته سنت اوکړي ، او دا ټول دولس رکعته دي ، دیته ( رواتب ) سنت مؤکده وایي .

نبي کریم ﷺ به د اقامت ( چه په سفر به نه وو ) دا سنت په دوامداره توګه اداکول ، او په سفر کښې به یي پریښودل لیکن وتر او دسهار سنت به یي په دواړه حالاتو کښې ادا کول ، غوره داده چه دا مؤکد سنت او وتر په کور کښې وکړل شي ، او که په مسجد کښې اوکړي نو هم باک نلري څکه چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : «أَفْضَلُ صَلاَةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلاَّ الصَّلاَةُ الْمَكْتُوبَةُ».

د بنده غوره لمونځ هغه دی ، چه په کور کښې اوکړي (بخاری : ٧٣١، مسلم : ٧٨١) .

**او په دوامداره توګه ددي سنتو ادا کول جنت ته د تللو سبب دی ، نبي کريم ﷺ په يو حديث کښې چه امام مسلم روايت کړی دی ، د ام المؤمنين ( ام حبيبه ) رضي الله عنها څخه فرمايي چه ما د نبي کريم ﷺ څخه دا ارشاد اوريدلی دی :** «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشَرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ، إِلاَّ بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ». **څوک چه په شپه او ورځ کښې دولس رکعته نفل لمونځ اوکړي ، الله تعالی به ورته په جنت کښې کور جوړ کړي** (مسلم :٧٢٨) **-**

**او که يي د مازديګر د لمانځه نه مخکښې څلور رکعته او همدارنګه د ماښام او ماسختن د لمانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل لمونځ اوکړه ، نو ښه به وي ځکه چه د نبي کريم ﷺ څخه ددي په باره کښې صحيح ثبوت او دليل شته .** وصلی الله علیٰ محمد وآلہ وسلم -

# أخطاء المصلين

**تاليف: الشيخ مشهور بن حسن آل سلمان**

## په لمانځه کښې د لمونځ کونکو غلطياني

ترجمه

**عبد الرحيم سلطان**

ناشر

جالياتو د دعوت او ارشاد لپاره مرستندويه مکتب ربوه – رياض

# د لمانځه په اړوند ځني غلطیانې

**په دې بحث کښې لاندې مسائل بیانیږي :**

*** په لمانځه کښې د قیام ( ولاړې ) په اړه غلطیاني**

*** رکوع او رکوع نه د راپورته کیدو په اړه غلطیاني**

*** د سجدې په اړه ځني غلطیاني**

*** په لمانځه کښې د تشهد او سلام ګرځولو په اړه ځني غلطیاني .**

***

# دلمانځه په اړوند دځني غلطیانو بیان

په دې بحث کښې لاندې مسائل بیانیږي :

* په ژبه باندي د نیت الفاظ ویل او د تکبیر تحریمه سره یې یو ځاي اداکول لازم او ضروري ګڼل -

* د تکبیر ( الله اکبر ویل ) اوهمدارنګه دقرات لوستل او دلمانځه د نورو اذکارو په مهال ژبي ته حرکت نه ورکول ، او چپ پاتې کیدل -

## په لمانځه کښې د قیام په اړه د لمونځ کونکو ځني غلطیانې

* د تکبیر تحریمه (لمانځه دپیل تکبیر) او همدارنګه رکوع ته د تللو په مهال ، او درکوع نه د راپورته کیدلو په مهال رفع الیدین ( لاسونه داوږو یا غوږونو برابر ) نه اوچتول -

*  په لمانځه کښې لاسونه زوړند نيول، او هغه په سينه يا د سيني نه لږ لاندي او دنامه نه بره نه كيښودل او دسورت فاتحي نه مخكښې د لمانځه دپيل دعا او همدارنګه تعوذ ( اعوذ بالله ) نه ويل سورت فاتحه مكرر ( څو څو ځله ) لوستل ، په لمانځه كښې د اسمان لورته كتل ، يا په لمانځه كښې يو خوا بل خوا كتل ، په لمانځه كښې سترګې پټو ل او همدارنګه په لمانځه كښې ډير حركت وغيره كول .

# رکوع او رکوع نه د راپورته کيدو په مهال ځني غلطياني

(دلمانځه ارکان په ښه ډوګه نه اداکول او همدارنګه په رکوع او قومه کښي بيړه کول، او په هميشه توګه قنوت نازله لوستل اوهمدارنګه د ضرورت په وخت کښي قنوت نازله پريښودل ، او هغه نه لوستل )

## د سجدې په اړه د لمونځ کونکو ځني غلطياني

د سجدې اندامونه په کامله توګه په زمکه نه کيښودل او په سجده کښي بيړه کول ، همدارنګه د سجدې ځني اندامونه ښکاره کول او په زمکه باندې پرته د څه ( حائل) پردې وغيره څخه سجده کول واجب ګڼل .
دمريض دسجدې لپاره يو څيز ورپورته کول ، او په سجده سهوه کښي دا الفاظ ( سبحان من لا يسهو ولا ينام ) - ويل .

# په لمانځه کښې د تشهد او سلام ګرځولو په اړه ځني غلطياني

په لمانځه کښې د تشهد په مهال ( السلام عليك أيها النبي ) کښې او همدارنګه د درود ويلو په مهال لفظ ( سيدنا) زيا تول -

پاملرنه : په لمانځه کښې د تشهد په مهال په ( سبابه ) ګوته باندي اشاره کول بد ګڼل ، او همدارنګه د سلام ګرځولو په اړوند ځني غلطياني او دهغې بيان .

# په ژبه باندي د نيت الفاظ ويل او تکبير تحريمه سره يي يو ځاي اداکول لازم او ضروري ګڼل -

په ژبه باندې د نيت الفاظ ويل د ټولو علماو په نيز باندې نه واجب دي او نه مستحب بلکه څوک چه په ژبه باندې د نيت الفاظ و ايي بدعتي او د شريعت مخالف دی . اوکه څوک دا عقيده ولري چه د نيت الفاظ ويل مشروع دي ، نو دا جاهل ګمراه او د تعزير مستحق دی ، چه کله ورته پوره بيان او وضاحت اوکړی شي ، او ددي وروسته بياهم په دوامداره توګه دا کار ( په ژبه باندې د نيت الفاظ ) وايي او هغه څوک چه ورسره يو ځاي په صف کښې ولاړوي هغوي ته په دي سره ضرر هم ورکوي ، نو پکار ده چه ده ته سزا ورکړی شي .

ځکه چه د مختلفو هيوادونو علماو په مختلفو وختونو کښې ددي وضاحت کړی دی چه په ژبه باندې د نيت الفاظ ويل بدعت دي ، او چه څوک دا عقيده لري چه دا جائز او سنت دي نو هغه په غلطه او دناپوهۍ ښکار دی .[1] -

لاندي حديثونه ددي مسئلې پوره وضاحت كوي .

عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ: ( كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ يَسْتَفْتِحُ الصَّلاةَ بِالتَّكْبِيرِ ) .

---

(۱) دتفصيل لپاره : زاد المعاد (١٩٤/١) ،فتح القدير شرح بداية (٦٧/١ـ٢٦٦)، تلبس ابليس (١٩٢)، الانصاف للمرداوى (١٤٢/١)، السنن والمبتدعات للقشيرى (ص:٢٥)مرعاة المفاتيح (٨٦/٣) ،مجموع فتاوى شيخ ابن باز (٢٠٤/٤ـ٢٠٣) اوګورئ

....

**ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها فرمايي چه نبي كريم ﷺ به لمونځ په الله اكبر سره شروع كولو .** [(١)]-

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ قَالَ لِلْمُسِيِّ صَلاتَهُ عِنْدَ مَا قَالَ لَهُ عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ لَهُ: «إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاةِ فَأَسْبِغْ الْوُضُوءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلْ الْقِبْلَةَ؛ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ ».

**د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى ، چه نبي كريم ﷺ هغه كس ته او فرمايل كوم چه لمونځ په سمه توګه نه**

---

**(١) صحيح مسلم (٣٥٧/١) كتاب الصلاة : باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح بہ ويختم بہ الخ (٤٩٨) سنن ابو داود (٤٩٤/١)ابواب تفريع استفتاح الصلاة: باب من لم ير الجهر ببسم ا لله الرحمن الرحيم (٧٨٣) سنن دارمى (١٥٦/٦) كتاب الصلاة :باب افتتاح الصلاة (١٣٤٨) مسند احمد (٣١،١٩٤/٦)**

**ادكولو او په لمانځه كښې ډيره بيړه كوله (كله چه هغه دنبي كريم ﷺ نه وغوښتل چه د لمانځه سمه طريقه ورته زده كړي ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل چه كله د لمانځه د اداكولو اراده اوكړې ، نو په پوره توګه اودس اوكړه ، بيا قبلي ( كعبي ) لوري ته مخ كړه او تكبير ( الله اكبر ) ووايه او بيا دقران كريم څخه هغه برخه ولوله كومه چه تاته اسانه وي .**

عَنْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ ( رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ افْتَتَحَ التَّكْبِيرَ فِي الصَّلاةِ فَرَفَعَ يَدَيْهِ )

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی فرمايي چه مانبي کريم ﷺ وليدو چه هغه د لمانځه شروع په الله اکبر سره وکړه ، او دواړه لاسونه يي پورته کړل . (١)

همدارنګه نور ډير داسې احاديث دنبي کريم ﷺ نه ثابت دي ، هغه ټول په دې دلالت کوې چه نبي کريم ﷺ دلمانځه شروع په الله اکبر سره کړيده .

او دالله اکبر نه مخکښې يي هيڅ ندي ويلي ، او ددي تايد د علماء کرامو ددي وينا څخه هم کيږي کله چه د ژبې وينا اود زړه دعمل په مينځ کښې ختلاف واقع شي ، نو اعتبار به د زړه عمل لره وي .

(١) صحيح بخارى (٢٢١/٢) كتاب الاذان :باب الى اين يرفع يديہ (٧٣٨) سنن نسائى (٩٣/٢) كتاب الافتتاح : باب العمل فى افتتاح الصلاة سنن ابوداود(٤٧٤/١)ابواب تفريع استفتاح الصلاة:با ب افتتاح الصلاة (٧٤١)

هر کله چه اعتبار د زړه عمل او ارادې لره دی او په دي باندي د علماو اجماع ده ، نو بیا په خوله باندي د نیت ویلو څه فائده ده . (١)

بله خبره داده چه هغه څوک چه په خوله باندي دنیت الفاظ وايي او دیته مستحب یا واجب وايي ، او د تکبير تحريمه سره دهغې یوځاي لوستل ضروري او لازم ګڼي دا ښکاره تناقض او ناشونی کار دی ، ځکه چه کله ددي کس ژبه په تکبير ( الله اکبر ویلو ) باندي مشغوله وي ، نو په همدغه وخت کښې دنیت الفاظ په خوله باندي څنګه وايي ، دا خو تناقض او محال ( ناشونی ) کار دی .

---

(١) ٢ موسوعة الاجماع فی الفقه الاسلامی (١٠٨٨)

## د تکبير ( الله اکبر ويل ) اوهمدارنګه دقرائت لوستل او دلمانځه د نورو اذکارو په مهال ژبي ته حرکت نه ورکول او چپ پاتې کيدل

په عامه توګه په لمانځه کښې د ځنې لمونځ کونکو غلطې هغه داده چه هغوي په لمانځه کښې د تکبير ( الله اکبر ) او همدارنګه د قرائت او اذکارو ويلو په وخت کښې ژبه نه خوزه وي بلکه چپ وي او يوائې په سوچ او فکر باندي اکتفا کوي ، لکه چه دوي دا ګمان کوي چه لمونځ يوائې د ځينو افعالو نوم دى ، او اقوال او اذکار وغيره په کښې نشته ، اګر چه دا موقف او نظر د ابوبکر اصم او سفيان بن عيينه هم دى ، تر

دي پوري هغوي ويلي دي چه لمونځ چه د تکبير ( الله اکبر ) ويلو نه پرته هم صحيح کيږي . (١) -
ليکن ددي په خلاف دجمهورو علماوو نظر او وينا داده چه هغه څوک چه عذر نلري دهغه لپاره لوستل په دومره اوچت اواز سره لازم او ضروري دي ، چه لوستونکی يي پخپله واوري . (٢)
او دمالکيانو په نيز د اذکارو وغيره دلوستلوپه وخت کښې د ژبي حرکت کافي دی ، ليکن د اختلاف نه دبچ کيدلو لپاره بهتره داده چه لوستل په دومره اوازسره اوکړی شي چه لوستونکی يي واوري .

---

(١) المجموع (٣/٢٥١) البته په دي کښي د ابن عيينه په ځاي ابن علية ذکر دی .
(٢) المغنى لابن قدامہ (٢/١٥٤)المجموع (٣/٣٦١) الفقہ على المذاہب الاربعۃ(١/٢٣٠)

# يوه دپام وړفقهي غلطي

مخکښې په وضاحت سره معلومه شوه چه په لمانځه کښې چپ پاتي کيدل او يواځي په سوچ او فکر باندي اکتفاکول صحيح نه دي ، نو ورسره داهم معلومه شوه چه هغه فقهي راي او نظر چه ويل کيږي کله چه يو کس ديو ملګري يا خپلوان سره ميلمه شي او دجنابت په حالت کښې راپاڅيږي ، نو ددي لپاره چه دا ملګری يا دا خپلوان ورباندي بدګمانه نشي ، نو يواځي دلمانځه حرکات دې ترسره کړي او دلمونځ الفاظ دې په خوله باندي نه وايي دا نظر او رايي غلطه او خطا ده .

# په لمانځه کښې د قيام ( ولاړې ) په اړه ځنې غلطياني

په لمانځه کښې د الله تعالى مخامخ ودريدلو په مهال دبعضې لمونځ کونکو نه ځنې غلطيانې کيږي ، هغه داچه کله دوي سنت پريږدي ، او کله په لمانځه کښې مکروه کارونه کوي ، دنبي کريم ﷺ مخالفت کوي او ورته سنت وايي ، ځکه چه دوي دا کارونه د خپلو پلرونو او نيکونو نه زده کړي او دهغوي تقليد کوي ځني ددغه غلطيانو نه په لاندي ډول بيانيږي :

١- د تکبير تحريمه ( دلمانځه دپيل تکبير ) په وخت او همدارنګه رکوع او بيا سجدې ته د تللو په وخت کښې رفع اليدين نه کول .

په دوي کښې ځني لمونځ کونکي د تکبیر تحریمه او رکوع ، قومه او د لمړۍ تشهد نه د پاڅیدلو په وخت کښې رفع الیدین نه کوي ، لیکن همدوي بیا په داسې وخت کښې رفع الیدین کوي په کوم وخت کښې چه رفع الیدین کول په لمانځه کښې یوه غلطي ګڼل کیږي ، د مثال په توګه د جنازې د تکبیراتو په وخت او همدارنګه د اخترونو د لمانځه د تکبیراتو زوائد ( دتکبیر تحریمه نه پرته نور تکبیرونه ) په دې مهال رفع الیدین کول .

په دوې کښې ځني بیا د رفع الیدین په ترک ( نه کولو باندې ) په ضعیف بې بنسټه احادیثو باندې او یا دصحیح احادیثو نه په غلط مفهوم بیانولو سره استدلال کوې .

د بیلګې په توګه داحدیث «مَنْ رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الصَّلاةِ فَلا صَلاةَ لَهُ » چاچه په لمانځه کښې رفع الیدین اوکړل دهغه لمونځ نه کیږي . (١) -

بلکه دنبي کریم ﷺ طریقه په لمانځه کښې داوه چه کله به یې لمونځ شروع کولو ، نو خپل دواړه لاسونه به

---

(١)
داحدیث موضوعي دی علامه ابن الجوزي په ''الموضوعات '' ٢/ ٩٧) او علامه محمد طاهر بیتني په '' تذکرة الموضوعات '' (ص: ٣٩) او علامه سیوطي په اللا لی المصنوعة (١١/٢) او ابن حبان په '' کتاب المجروحین '' (٤٦/٣) اوعلامه جورجاني په ''الاباطیل''(٣٩٠) او علامه ابن قیم په ''المنار المنیف ''(١٢٩) او علامه الباني په '' سلسلةالاحادیث الضعیفة (٥٦٨) کښې ذکر کړی دی . -

ددي په سند کښې مامون بن احمد هروي دی ، او علامه جور قاني ورته ''دجال من الدجاجلة ،کذاب،وضاع ،خبیث '' او ابن الجوزي ورته ''کذاب'' او ابن حبان ورته دجال من الدجالین او علامه الباني ورته ''دجال یضع الحدیث'' ویلی دی، او علامه ذهبي او علامه ابن قیم ورته. ''وضاع ویلی دی -

يي تر اوږو برابر پورته کول ، او همدارنګه به يي د رکوع نه د سر پورته کولو په وخت کښې هم دواړه لاسونه پورته کول . (١)-

او دنبي کريم ﷺ دا طريقه نيږدې پنځوس صحابه کرامو نقل کړيده په دوې کښې د عشره مبشره صحابه کرامو د جملي څخه ( هغه لس صحابه کرام

(١) صحيح بخارى (٢/١٩ـ١٨ ٢) كتاب الا ٔذان :باب رفع اليدين فى التكبيرة الا ولى مع الافتتاح سواء (٧٣٥) و باب رفع اليدين اذا كبر واذا ركع واذا رفع(٧٣٦،٧٣٧)،صحيح مسلم (١/ ٩٣ ـ٢٩٢) كتاب الصلاة :باب استحباب رفع اليدين حذو المنكبنين مع تكبيرة الاحرام الخ(٣٩١،٣٩٠)

چه ورته په يو مجلس کښې دجنت زيرى ورکړى شوى وو هم شتون لري [١] -

امام بخاري رحمه الله فرمايي : چه حسن او عبد الله بن هلال ويلي دي چه ټولو صحابه کرامو به په لمانځه کښې رفع اليدين کول ، او دوې د کوم يو صحابي تخصيص نه دى کړى ، نو ديته سنت نبوي متواتر وايي ، لکه څنګه چه امام ذهبي ددي وضاحت کړى دى . [٢] -

(١) ددي امر وضاحت علامه عراقي په کښې کړى دى "تقريب الاسانيد" د پوره تفصيل لپاره وګورئ : طرح التثريب فى شرح التقريب (٢/٢٥٤) .

(٢) په دې باره کښې ما د علامه ذهبي قول ونه ليد ، البته علامه سيوطي رحمه الله ددي مسئلي وضاحت کړى دى ، په المتناثرة فى الاخبار المتواترة" کښې دتفصيل لپاره اوګورئ مرعاة المفاتيح (٣/٥٠)

په لمانځه کښې درفع الیدین کولو مسنون طریقه داده چه د ګوتو په مینځ کښې نه باید ډیره فاصله وي ، او نه باید یو بلې ته ډیرې نیزدې وي [۱] -

نبي کریم ﷺ به په لمانځه کښې د رفع الیدین په مهال لاسونه کله د اوږو برابر او کله به یې د غوږونو تر نرمو برابر پورته کول [۲]

---

(۱) دا نظردجمهورو علماو دی ، او همدا نظر صحیح دی ، دبعضي پوهانو نظر دادی چه د ګوتو په مینځ کښې باید فاصله وي خو ددوې دا نظر مرجوح دی ، د تفصیل لپاره -: المغنی (۲/ ۱۳۸) نیل الاوطار (۲/ ۱۸۲) تحفة الاحوذی (۱/۲۰۰) اوګوری

(۲) د اوږو پورې دلاسونو پورته کول د ابن عمر رضي الله عنه په متفق علیه روایت کښې ذکر دي

او همدارنګه په ابو داود (۱/٤٦٧،٥٨٩) ترمذی (۱/٢٤٩) او ابن ماجه (۱/ ۳۳۷) کښې په حدیث د ابو حمید الساعدي کښې ذکر دي او دغوږونو تر نرمو پورې د لاسونو پورته کولو ثبوت په حدیث د وائل بن حجر او مالک بن حویرث کښې چه امام مسلم روایت کړي دي ذکر دي . صحیح مسلم (۱/ ۳۰۱،۲۹۳)

او همدارنګه به يي لاسونه کله د الله اکبر سره او کله د هغې نه وروستو، او کله د هغې نه مخکښې پورته کول . [١]

په دې تفصيل سره دهغه چا غلطي ښه واضحه شوه ځوک چه په لمانځه کښې د رفع اليدين په مهال لاسونه د دعا په ځير پورته کوي .

٢- په لمانځه کښې لاسونه زوړند نيول يعني لاسونه په سينه او يا د سينې او نامه ترمينځ نه کيښودل :
په لمانځه کښې د لمونځ کونکي لپاره د ولاړې په مهال خپل ښي لاس په چپ لاس باندي کيښودل لازم او ضروري دي ، په صحيح بخاري کښې راغلي دي :

---

(١) د تکبير سره د لاسونو پورته کولو ثبوت په حديث د وائل بن حجر رضي الله عنه کښي دی ، کوم چه امام ابو داود په سنن ابو داود کښي ذکر کړی دی سنن ابو داود (١/ ٤٦٥) کتاب الصلاة :باب رفع اليدين فی الصلاة (٧٢٥) او د تکبير نه وروستو او مخکښي د لاسونو پورته کولو ثبوت په روايت د مالک بن حويرث او ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کښي دی کوم چه امام مسلم ذکر کړي دي :
صحيح مسلم (٢٩٢/١ـ٢٩٣) کتاب الصلاة : باب استحباب رفع اليدين حذو المنکبين (٣٩١،٣٠٩) .

( عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رضي اللّه عنه قَالَ: كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ ) .

**د سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي خلكوته به دا حكم كولای شو چه خپل ښی لاس د چپ لاس په څنګل باندي كيږدي** (١) -

**او په سنن بيهقي كښې راغلي دي** :عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: «إنَّا مَعْشَرَ الأنْبِيَاءِ أُمِرْنَا أنْ نُوَخِّرَ سُحُورَنَا وَنُعَجِّلَ فِطْرَنَا ،وَأنْ نُمْسِكَ بِأيْمَانِنَا عَلَى شَمَائِلِنَا فِي صَلاتِنَا ».

**د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي** : **چه نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چه مونږ د پيغمبرانو ټولګي ته دا حكم كړی شوی دی چه دپيشمني كولو كښې روستوالی اوكړو ، او په روژه**

---

**(١) صحيح بخاری (٢/ ٢٢٤) كتاب الاذان : باب وضع اليمنی علی اليسری (٧٤٠) مؤطا مالک (ص:٥٥ـ٥٦)باب وضع اليدين احداهما علی الاخری فی الصلاة ، سنن كبری(٢/٤٤) كتاب الصلاة: باب وضع اليد اليمنی علی اليسری فی الصلاة (٢٣٢٦)**

ماتي کښې بيړه اوکړو ، او په لمانځه کښې خپل ښي لاس په چپ لاس باندي کيښودو . (۱)-

ددي دواړه احاديثو نه دا معلومه شوه چه په لمانځه کښې لاسونه زوړند نيول د ځني لمونځ کونکو غلطي ده ځکه چه ښی لاس په چپ لاس باندي کيښودل دنبي کريم ﷺ او دمخکنو پيغمبرانو طريقه وه . (۲)

او همدارنګه داهم سنت دي چه لاسونه په سينه باندي په داسي شان چه ښی لاس د چپ لاس په مړوند او څنګل باندي کيښودل شي .

( عَنْ وَائِلَ بْنَ حُجْرٍقَالَ: لأَنْظُرَنَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ كَيْفَ يُصَلِّي؛ فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ؛ فَقَامَ؛ فَكَبَّرَ، وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا بِأُذُنَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى كَفِّهِ الْيُسْرَى وَالرُّسْغِ وَالسَّاعِدِ ) .

---

(۱) سنن کبری (۲/٤٤) کتاب الصلاة: باب وضع اليد اليمنى على اليسرى في الصلاة (۲۳۲۹)

(۲) لمانځه کښې لاسونه زوړند نيولو موقف امام مالک طرف ته منسوب دی ليکن هغه طرف ته دا نسبت کول صحيح نه دي ، ځکه چه دهغه په کتاب موطا کښې ددي په خلاف صراحت موجود دی . دا حقيقت ځني مالکيانو او ځني نورو علماو په مستقل کتابونو کښې واضحه کړی دی ، لکه شيخ ابوبکر ابوزيد په خپل کتاب''التعاليم'' (ص:۱۰۰) . کښې ددي وضاحت کړی دی .

دوائل بن حجر رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي چه ما اراده وکړه چه خامخا نبي کریم ﷺ ته ګورم چه څنګه لمونځ کوي ، نو ما ورته کتل چه لمانځه ته پاڅیدو تکبیر یي وکړو او دواړه لاسونه یي د غوږونو برابر پورته کړل ، بیا یي خپل ښی لاس د چپ لاس په مړوند او څنګل باندي کیښود (۱)-

ددي مطلب دادی ، چه نبي کریم ﷺ خپل ښی لاس د چپ لاس په مړوند او څنګل باندي ایښی دی او دنبي کریم ﷺ نه داهم ثابت دي ، چه کله به

---

(۱) سنن نسائی (۲/ ۹۷ـ۹۸ ) کتاب الافتتاح :باب موضع الیمین من الشمال فی الصلاة،سنن ابو داود (۱/ ٤٦٥ـ٤٦٦) ابواب تفریع استفتاح الصلاة:باب افتتاح الصلاة (۲۷٦،۲۷۷) ،سنن کبری (٤٣/٢) کتاب الصلاة :باب وضع الید الیمنی علی الیسری فی الصلاة (۲۳۲۳)،مسند احمد (٣١٨/٤) ،سنن دارمی (١٧٢/٦) کتاب الصلاة: باب قبض الیمین علی الشمال فی الصلاة (۱۳۵۳) .
ددي حدیث سند صحیح دی لکه څنګه چه امام ابن خزیمه ، امام ابن حبان ، علامه نووي ، حافظ ابن قیم ، او علامه الباني ، ددي وضاحت کړی دی ، د تفصیل لپاره : ارواء الغلیل (۲/ ٦٩) صحیح ابو داود ۱/ ٤٠ ۱) صحیح نسائی (۱/ ١٩٤)۔ اوګوي

نبي کريم ﷺ په ښي باندي چپ لاس نيولو ، (١)-
دا حديث په دې دلالت کوي ، چه په ښي لاس باندي
د چپ لاس نيول سنت دي ، او دمخکښې حديث نه
معلومه شوه ، چه ښی لاس په چپ لاس باندي
کيښودل سنت دي ، پس دا دواړه طريقې دسنت
برابرې دي (٢) په دې مهال يوه غلطي : ځني لمونځ
کونکي کوشش کوي چه په يو وخت کښې په دواړه
طريقو باندي عمل اوکړې ، نو د خپل ښي لاس په
کچه او غټه ګوته باندي د چپ لاس مړوند ونيسي ،
او پاتې نورې درې ګوتې د چپ لاس په ليچه باندي

---

(١) سنن نسائی (٢/ ٩٧) کتاب الافتتاح :باب وضع اليمين على الشمال فی الصلاة،سنن کبریٰ (٤٣/٢) كتاب الصلاة : باب وضع اليد اليمنى على اليسرى فی الصلاة (٢٣٢٤) ،سنن ابن ماجہ (٢٦٦/١) كتاب اقامة الصلاة الخ : باب وضع اليمين على الشمال فی الصلاة (٨٠٩،٨١٠).

(٢) البته اولنی حديث قولي حديث دی ، او په دي مسئله کښی چه څومره حديثونه راغلي دي په هغه ټولو حديثو نو کښی صحيح حديث دی ، او همدارنګه نور فعلي احاديث هم ددي په موافقت کښی راغلي دي ، ددي له وجې نه ښی لاس په چپ لاس باندي کيښودل غوره دي .

کيږدي ، لکه څنګه چه د متاخرينو په کتابونو کښې ذکر دي . (١) -

دهغوې يوه غلطي داهم ده ، چه دواړه لاسونه سرچپه ږدي ، او داعقيده لري چه په دې کښې ډيره عاجزي ده ، خودا کار د نبوي طريقې مخالف دی .

## ٣- دفاتحې ويلو نه مخکښې دلمانځه د پيل دعا اوتعوذ(اعوذبالله) نه ويل .

ځنې لمونځ کونکي په لمانځه کښې د لمانځه د پيل دعا او تعوذ (اعوذبالله ) نه وايي سره ددينه چه دا دواړه لوستل په لمانځه کښې مستحب دي(٢)- او دالله تعالی فرمان دی :

---

(١) ځنې علماو دا طريقه ددې لپاره ويلې ده چه په دواړو احاديثو تطبيق راشي ، خو دمشكاة شارح صاحب مرعاة دا قول رانقل کړی دی ، او بيا ويلي دي ، چه ددې حديثونو د تطبيق لپاره دې تكلف ته هيڅ ضرورت نشته ، ځكه چه تطبيق هغه وخت كولای شي چه كله د حديثونو په مينځ كښې تعارض وي ، او دلته هيڅ تعارض نشته ځكه چه دواړه طريقې په جدا جدا وختونو كښې عين ممكن دي . مرعاة المفاتيح(٦٠/٣)

(٢) د مؤلف په څير اكثرو علماو تعوذ ويلو ته مستحب ويلي دي دوي په دې ايت كريمه كښې امر په ندب او استحباب باندې حمل کړی دی ، ليكن د ايت كريمه د ظاهر څخه دتعوذ وجوب معلوميږي

﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ ٱلْقُرْءَانَ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴾ [النحل: ٩٨] دقران د لوستلو په وخت په الله تعالی سره د شیطان رټلی شوی نه پناه وغواړه .

ددي ايت د عموم څخه دا معلوميږي چه تعوذ ﴿ اعوذ بالله ﴾ ويل په هرکعت کښې مشروع دي ، او همدا د شوافعو صحيح مذهب دی ، حافظ ابن حزم ورته راجح او غوره ويلی دی . (١) (٢) -

---

ځکه چه په دې مقام کښې هيڅ قرينه صارفه نشته . والله اعلم بالصواب.

(١) المجموع (٣/٢٨٠ـ٢٨١)

(٢) المحلى (٣/٢٤٧). په دې مسئله کښې د ځنې علماو وينا داده چه تعوذ ويل يواځې په لمړي رکعت کښې ويل کافي دي ، دا قول عطاء ، حسن بصري ، نخعي ، ثوري ، ابوحنيفه ، او احمد رحمهم الله د يو قول مطابق ، اختيار کړی دی ، او همدي قول ته حافظ ابن قيم رحمه الله راجح او غوره ويلی دی ، او دنيل الاو طار او مرعاة مصنف دا قول ذکر کړی دی او بيا يي سکوت اختيار کړی دی هغوي چه کومه وجه د ترجيح او غوره والي ذکر کړي ده درسته او صحيح ده ، ددي وجي نه په لمړي رکعت کښې تعوذ ويلو باندي اکتفا کول درست او صحيح دي ، ليکن احتياط په هغه قول کښې دی کوم چه مؤلف رحمه الله ذکر کړی دی . والله اعلم بالصواب .

## ۴- سورت فاتحه په تکرار سره لوستل

مکمل سورت فاتحه يا دهغي يوه برخه په تکرار سره لوستل د لمونځ کونکې لپاره مکروه دي ، ځکه چه دا کار نه دنبي کريم ﷺ څخه ثابت دی ، او نه دهغه د صحابه کرامو څخه ، او همدا نظر د څلورو امامانو او جمهورو علماو دی ، البته دومره ده چه ايا دده دالمونځ باطل دی که نه ؟

په دې کښې اختلاف دی ، زما د پوهي مطابق ددي (لمونځ دفاسديدلو) هيڅ دليل نشته .

داحنافو او شوافعو په نيز ورباندي سجده دسهوي لازميږي ، چه کله سورت فاتحه سهوا په تکرار سره ولولي ، (١)

---

(١) الفقه على المذاهب الاربعة(١/ ٤٥٥) ( په دې کښې يوائې د احنافو ذکر دی . )-

او که قصدا سورت فاتحه په تکرار سره ولولي نو دشوافعو په نیز وربانديي بیاهم سجده دسهوي لازمیږي ، او داحنافو په نیز وربانديي لازم ده چه دلمانځه اعاده وکړي ، او ګناهګار هم شه .

او مالکیانو په نیز قصدا دسورت فاتحې لوستل حرام دي ، البته لمونځ وراندي نه باطلیږي ، او سهوا سورت فاتحه په تکرار سره ولولي نو سجده دسهوې به کوي او همدا نظر درست او صحیح دی . (۱) -

(۱) الفقہ علی المذاہب الاربعۃ (۱/ ٤٥٨).

## ۵- په لمانځه کښې اسمان طرف ته نظر پورته کول او دسجدې ځاي ته نه کتل -

په لمانځه کښې د ځنې لمونځ کونکو غلطي : اسمان په لوري نظر پورته کول ، يا ښي او چپ لوري ته کتل غلطې ده او اکثر ددي دوجي لمونځ کونکی په لمانځه کښې خطا او سهوه کيږي ، په لمانځه کښې خپل نظر ښکته ساتل او د سجدې ځاي ته کتلو باندي حکم شوی دی .

البته د تشهد د ناستي وخت له دي څخه مستثنی دی ځکه چه د تشهد په مهال بايد نظر د شهادت د ګوتې په اشاره باندي وي ، لکه څنګه چه د نبي کريم ﷺ طريقه وه په لمانځه کښې «لا يُجَاوِزُ بَصَرُهُ إشَارَتَهُ» د تشهد په وخت کښې به د نبي کريم ﷺ نظر د هغه د شهادت دګوتي په اشاره باندي وو او دهغې نه به يي تجاوز نه کولو . (١) -

---

(١) سنن نسائی (٣/٣٣ ـ٣٤) كتاب السهو : باب موضع البصر عند الاشارة، سنن ابوداود (١/ ٦٠٤) تفريع ابواب الركوع والسجود : باب الاشارة فی التشهد (٩٩٠) مسند احمد (٤/ ٣) .

عَنْ عَائِشَةَ رضي اللّه عنها قَالَتْ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ عَنْ الالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ: « هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ ».

**عائشه رضي الله عنها څخه روايت دى ، هغه فرمايي چه ما دنبي كريم ﷺ څخه پوښتنه وكړه چه په لمانځه كښې يو خوا بل خوا ته كتل څنكه دي ؟ نبي كريم ﷺ وفرمايل : دا خو دشيطان تښتول دي چه د بنده دلمانځه څخه يوه برخه تښتوي .** (١)-

عَنْ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي صَلَاتِهِمْ؛ فَاشْتَدَّ قَوْلُهُ فِي ذَلِكَ حَتَّى قَالَ: لَيَنْتَهُنَّ عَنْ ذَلِكَ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ» .

---

**علامه الباني رحمه الله دې حديث ته " حسن صحيح ويلي " صحيح سنن نسائى " (١/ ٢٧٢) صحيح سنن ابوداود (١/ ١٨٦).**

**(١) صحيح بخارى (٢/ ٢٤٣) كتاب الاذان : باب الالتفات فى الصلاة (٧٥١) جامع ترمذى (١/ ٤٠٦) ابواب الصلاة: باب ما ذكر من الالتفات فى الصلاة ،سنن ابوداود (١/ ٥٦٠) تفريع ابواب الركوع والسجود:**

**با ب الالتفات فى الصلاة (٩١٠) سنن نسائى (٣/ ٨) كتاب السهو : با لتشديد فى الالتفات فى الصلاة ، مسند احمد (٦/ ١٠٦).**

د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : څه وجه ده چه ځنې خلک په لمانځه کښې اسمان لوري ته ګوري ؟ بيا په دې باره کښې د نبي کريم ﷺوينا سخته شوه ، تر دې چه نبي کريم ﷺ وفرمايل : خامخا دې دا خلک په لمانځه کښې د اسمان لوري ته کتلو نه منعه شي ، ګني دسترګو نظرونه به يي ختم شي (١) -

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ قَالَ: «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلاةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ ».

---

(١) صحيح بخارى (٢/ ٢٣٣) كتاب الاذان : باب رفع البصر الى السما ء فى الصلاة (٧٥٠) سنن ابو داود (١/ ٥٦١ـ٥٦٢) تفريع ابواب الركوع والسجود : باب النظر فى الصلاة (٩١٣) سنن نسائى (٧/٣) كتاب السهو : باب النهى عن رفع البصر الى السماء فى الصلاة ،سنن ابن ماجه (١/ ٣٣٢) كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها: باب الخشوع فى الصلاة (١٠٤٤) سنن دارمى (٦/ ٢٨٣) كتاب الصلاة : باب كراهية رفع البصر الى السما ء فى الصلاة(١٤١٧) سنن كبرى (٢/ ٤٠١) كتاب الصلاة : باب كراهية رفع البصر الى السماء فى الصلاة (٣٥٣٦) مسند احمد (٣/ ١٠٩،١١٢،١١٥،١١٦،١٤٠،٢٥٨)

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي ، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : داخلک دې په لمانځه کښې د دعا په وخت اسمان لوري ته کتلونه منعه شې ګني دسترګو نظرونه به يي ختم شي . (1)-

عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ : «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي الصَّلاةِ أَوْ لا تَرْجِعُ إِلَيْهِمْ » . د جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي، چه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : خامخا دا خلک دې په لمانځه کښې د اسمان لوري ته کتلو نه منعه شي ، ګني دسترګو نظرونه به يي واپس بيرته را نشي . (2)-

---

(1) صحيح مسلم (٣٢١/١) كتاب الصلاة: باب النهى عن رفع البصر الى السماء فى الصلاة (٤٢٩) مسند احمد (٣٦٧/٢،٣٣٣)نسائى(٣٤/٣)

(2) صحيح مسلم (٣٢١/١) كتاب الصلاة : باب النهى عن رفع البصر الى السماء فى الصلاة (٤٢٨)سنن ابوداود (٥٦١/١) تفريع ابواب الركوع والسجود :باب النظر فى الصلاة(٩١٢)،سنن ابن ماجہ (٣٣٢/١) كتاب اقامة الصلاة والسنۃ فيها :باب الخشوع فى الصلاة (١٠٤٥) سنن دارمى (٢٨٢/٦) كتاب الصلاة :باب كراہيۃ رفع البصر الى السماء فى الصلاة (١٤١٦) سنن كبرىٰ (٢/ ٤٠١) كتاب الصلاة :باب كراہيۃ رفع البصر الى السماء فى الصلاة (٣٥٣٨) .

ددي حديثونو نه په تاکيد سره معلومه شوه چه په لمانځه کښې اسمان لوري ته کتل سخت منعه دي او اسمان لوري ته کتونکي ته سخت وعيد ( ويره ) ذکر شوه ، او ددي په باره کښې اجماع هم نقل شوي ده .

او همدارنګه د لمړي حديث نه معلومه شوه چه په لمانځه کښې د ضرورت څخه پرته يو خوا بل خوا کتل مکروه دي ، البته په دې سره لمونځ نه باطليږي مګر که د قبلي څخه پوره اوګرځي او يا قبلي لوري ته شاه کړې .

علامه ابن عبد البر فرمايي چه دجمهورو علماو وينا داده چه په لږ يوخوا بله خوا کتلو سره لمونځ نه فاسديږي.

## ٦- په لمانځه کښې سترګې پټول

امام ابن قيم رحمه الله فرمايي چه په لمانځه کښې سترګې پټول د نبي کريم ﷺ طريقه نه وه ، او دا خبره خو مخکښې ذکر شوه چه د تشهد په وخت کښې به دنبي کريم ﷺ نظر دشهادت په ګوته باندي وو او دهغې نه به يي تجاوز نه کولو . (١) -

(١) زاد المعاد ٢٨٣/١)

# ۷- په لمانځه کښې بې حاجته حرکتونه وغیره کول -

د ځنې لمونځ کونکو غلطې په لمانځه کښې بې حاجته حرکت وغیره کول دي د کوم په وجه باندي چه لمونځ کونکی د لمانځه د خشوع او عاجزۍ نه غافله کیږي :
لکه دلاس ګوتې یو په بل کښې ورکول ، نوکان صفا کول ، یا د ښپو ګوتو ته پرله پسې حرکت ورکول پټکۍ وغیره برابره ول ، ساعت وغیره ته کتل ، یا یو خوا ته ډیر مایله کیدل وغیره هغه کارونه دي چه دلمانځه خشوع او ثواب له مینځه وړي .
خشوع اوعاجزي دلمانځه مغز او روح دی ، نو مؤمن بنده باید ددې ډیر حرص او اهتمام وکړي .
هغه حرکت چه لمونځ فاسدوي ، د هغې تعین په دري قدمونو یا حرکتونو سره کول په دې باندي هیڅ دلیل نشته ، ځکه چه دا دنبي کریم ﷺ څخه منقول نه دي ، بلکه دا ځنې علماو وینا ده او څه دلیل ورباندي نشته
البته په لمانځه کښې بې حاجته حرکتونه کول ، لکه

پوزه کښېږ ګوتي وهل ، يا د ګيري جامو وغيره سره
لوبي كول وغيره مكروه دي .
او كله چه دا عمل پر له پسې توګه زيات شي نو لمونځ
فاسدوي ، خو که يو ځل حرکت وي په دې سره
لمونځ نه فاسديږي زيات وي اوكه كم وي البته
يومؤمن لپاره دا بايد ده چه كامل او پوره لمونځ وكړي
او په هغې كښې د خشوع او عاجزۍ كوشش وكړي ،
او د بې حاجته حركتونو وغيره نه ځان وساتي لږ وي او
كه ډير وي .
نبي كريم ﷺ ځني خلك وليدل چه په لمانځه كښې
يي دلاسونو سره لوبې كولې او بې حاجته يي خوزول ،
نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : «مَا لِي أَرَاكُمْ
رَافِعِي أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ
أُسْكُنُوا فِي الصَّلَاةِ » . څه وجه ده چه زه وينم
تاسو لره چه خپل لاسونه د ترنده اسونو دلكۍ پشان
پورته كوي ، په لمانځه سكون اختيار كړې . (١)-

---

(١) صحيح مسلم(١/٣٢٢) كتاب الصلاة : باب الامر بالسكون فى الصلاة والنهى عن العشارة باليد الخ (٤٠٣) سنن ابى داود (١/٦٨٠)

په حديث کښې د لمانځه په مهال خشوع او عاجزي اختيارول ، او لمانځه ته متوجه کيدل ، او په هغې کښې دبي ځايه حركت وغيره نه ځان ساتلو حكم شوى دى

ددي نه دهغه چا غلطې ښكاره کيږي ، څوک چه پرته د ضرورت څخه قران کريم راخلي اود امام لوستلو ته غوږ ږدي ، سر بيره پر دي چه دوي په قران کريم کښې هم په صحيح طريقې سره لوستل نشي کولای ، نو ددي طريقې نه ځان ساتل پكار دي

تفريع ابواب الركوع والسجود : باب فى السلام (١٠٠٠) ،سنن نسائى (٥/٣) كتاب السہو : با ب السلام بالايدى فى الصلاة ،مسند احمد
(٥/١٠٧،١٠٢،١٠١،٨٨،٨٦ )

# رکوع او دهغې نه دراپورته کيدوپه مهال ځنې غلطيانې-

ډير لمونځ کونکي په رکوع او د رکوع نه د راپورته کيدو په مهال ځنې غلطيانې کوي ، چه ورته بايد تنبيه ورکړى شي ځکه چه په دې کښې ځنې د لمانځه ارکانو او واجباتو سره تړاو لري .

۱- دلمانځه په ارکانو کښې دهغې ذکرونه او دعا ګاني نه لوستل

دجمهورو علماو په نيز باندي مکروه ده چه لمونځ کونکى دلمانځه د يورکن څخه بل رکن ته لاړشي او دلمړي رکن ذکرونه او دعاګاني دخپل ځاي نه وروستو کړي

په دې صورت کښې رکوع ته د تللونه بعد (الله اکبر) ويل ، او همدارنګه درکوع څخه دراپورته کيدلو نه وروستو (سمع الله لمن حمده) ويل دځنې لمونځ کونکو غلطې ده ، ځکه چه دجمهورو په نيز باندي هر رکن دهغې په اذکارو سره ابادول مشروع دي .(۱)-

---

(۱) الفقه على المذاهب الاَربعة (۲۷۷/۱) ،الفقه الاسلامى وادلته (۷۸۷/۱)

**لکه څنګه چه په لاندي حدیث کښې راغلي دي** :

عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُولُ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنْ الرَّكْعَةِ، ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ و قَالَ بعض الرواة: وَلَكَ الْحَمْدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ثُمَّ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنْ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ.

**د ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی ، فرمایي نبي کریم ﷺ چه به کله لمانځه ته پاځیده نو دولاړي په مهال به یي ، الله اکبر ویلو ، بیابه یي د رکوع لپاره الله اکبر ویلو ، او چه کله به یي درکوع نه ملا راپورته کوله ، نو** ( سمع الله لمن حمده ) **به یي ویله او دهمدي ولاړي په مهال به یي** (ربنا لک الحمد )

ویله ،ځني راویانو ( ولک الحمد ) یعنې د واو په زیاتولو سره نقل کړې ده .

کله چه به سجدې ته تللو نو الله اکبر به یې ویلو ، او چه کله به یې د سجدې نه سر راپورته کولو ، نو الله اکبر به یې ویلو ، بیابه چه دوهمې سجدې ته تللو نو الله اکبر به یې ویلو ، همدغه شان به یې د خپل لمانځه په ( هررکعت کښې کولو ) او د دوو رکعتونه وروستو به چه کله دریم رکعت ته پاڅیدلو ، نو الله اکبر به یې ویلو . (۱)-

۲- دلمانځه په ارکانو کښې دهغې اذکار او دعا وروسته کولو په اړوند د ځني لمونځ کونکو یوه غلطې داهم ده کومه چه امام نووي رحمه الله د هغې وضاحت کړی دی ، امام نووي رحمه الله د نبي کریمﷺ دا فعل

---

(۱) صحیح بخاری (۲۷۵/۲) کتاب الاذان :باب التکبیر اذا قام من السجود (۷۸۹)،

صحیح مسلم(۲۹۳-۲۹۴/۱)کتاب الصلاة : باب اثبا ت التکبیر فی کل خفض ورفع فی الصلاة الارفعہ من الرکوع فیقول فیہ و سمع الله لمن حمده(۳۹۲) سنن ابوداود (۵۲۳/۱) تفریع ابواب استفتاح الصلاة : با ب تمام التکبیر (۸۳٦) سنن نسائی (۱٤۱/۲) کتاب الافتتاح : باب التکبیر للرکوع ،سنن دارمی (۱۸۵/٦) کتاب الصلاة: باب التکبیر عند کل خفض و رفع (۱۳٦۰) مسند احمد (۲۷۰،٤۵٤/۲)

( چه کله به نبي کریم ﷺ ( سمع الله لمن حمده) وویله نو "ربنا و لک الحمد" به یې هم ویله او دهغه ﷺ ددي وینا چه ( زه مو چه په کومه طریقه په لمونځ کولو لیدلی یم همغه شان لمونځ کوي ) د ذکر کولو نه وروستو ویلي دي : د مخکني دلائلوسره ، داخبره باید هم وکړو چه هر لمونځ کونکی ( امام وي او که مقتدي وي ) باید دا دواړه اذکار ( سمع الله لمن حمده) (ربنا و لک الحمد) ووایي ، ځکه چه دا داسې اذکار دي ، کوم چه د امام لپاره مستحب دي ، نو دمقتدي لپاره هم مستحب دي ، لکه د رکوع وغیره اذکار .

همدارنګه د لمانځه په هره برخه کښې باید دهغې اړوند اذکار او دعاګانې وویل شې ، نو درکوع څخه د راپورته کیدلو او ولاړې په مهال دغه مذکوره دواړه اذکار ویل پکار دي ، او که ونه ویل شي نو دلمانځه دغه برخه داذکارو څخه خالي پاتي شوه . (١)-

---

(١) المجموع (٣٩٣/٣)- په دې مسئله کښې دا حکم کول چه دا دلمانځه دغلطیانو څخه ده ، درست او صحیح نه ده ، ځکه چه په دې مسئله کښې دعلماو اختلاف دی ، او په دې کښې صحیح موقف هغه دی ، کوم چه امام ابو حنیفه ، امام مالک ، امام احمد غوره کړی دی ، چه مقتدي به یواځې په "ربنا ولک الحمد " اکتفا کوي ځکه چه دمقتدي لپاره "سمع الله لمن حمده "ویل په

# ۳- په رکوع او قومه کښې بيړه کول

عَنْ زَيْدَ بْنَ وَهْبٍ قَالَ: رَأَى حُذَيْفَةُ رَجُلا لا يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ قَالَ: مَا صَلَّيْتَ وَلَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِي فَطَرَ اللَّهُ مُحَمَّدًا ﷺ عَلَيْهَا .

**زيد بن وهب وايي چه حذيفه رضي الله عنه يو سړی وليده چه په لمانځه کښې يي رکوع او سجده په ښه شان سره نه کوله ، نو ده ورته وفرمايل چه تالمونځ نه دی کړی ، او که په دي حال کښې مړ شوې نو ستا مرگ به په هغه فطرت ( دين ) باندي نه وي په کوم چه الله تعالی محمدﷺ پيداکړی دی . (۱) -**

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ النَّبِىَ ﷺ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ؛

---

**هيڅ يو صحيح مرفوع حديث کښې ثابت نه دي لکه څنگه چه ددي وضاحت ابن حجر په فتح الباري کښې او صاحب دمرعاة په شرحه دمشکاة کښې کړی دی : فتح البارى (۲/ ۲۸۳ـ۲۸٤) مرعاة المفاتيح (۱۸۸/۳ تر ۱۹۰)**

**(۱) صحيح بخارى (۲۷٤/۲ـ۲۷۵)کتاب الاذان : باب اذا لم يتم الركوع والسجود (۷۹۱) مسند احمد (۳۹٦/٥،۳۷٦،۳۱۰)**

فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِي ﷺ ؛ فَرَدَّ عَلَيْهِ السَّلامُ؛ فَقَالَ: «ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ- ثلاثا- » فقال: وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ؛ فعَلِّمْنِي. قَالَ: إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلاةِ؛ فَأَسْبِغْ الْوُضُوءَ، ثُمَّ اسْتَقْبِلْ الْقِبْلَةَ؛ فَكَبِّرْ، ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ، ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تعتدل قَائِمًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ،ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلاتِكَ كُلِّهَا.

**ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي نبي کريم ﷺ مسجد ته داخل شو ، يو سړی راغی لمونځ يي اوکړو ، بيا يي په نبي کريم ﷺ باندي سلام اوکړو نبي کريم ﷺ هغه ته دسلام جواب ورکړو او ورته يي وفرمايل لاړشه لمونځ اوکړه تا لمونځ نه دی کړی کله چه نبي کريم ﷺ ورته د دريم ځل لپاره وويل ، لاړشه لمونځ اوکړه تالمونځ نه دی کړی ، هغه سړي وويل**

زما دې په هغه ذات قسم وي ، کوم ذات چه ته په حق سره رالیږلی یي زه ددینه نور په ښه توګه لمونځ نشم کولای ماته یي را وښایه ! نبي کریم ﷺ وفرمایل : ته چه کله دلمانځه اراده اوکړې ، نو په ښه شان سره اودس اوکړه ، بیا دقبلې په لور مخ کړه او تکبیر (الله اکبر) ووایه بیا د قران هغه برخه ولوله کومه چه اسانه وي بیا ته په اطمئنان سره رکوع اوکړه (بیړه مه کوه) بیا پورته شه او برابر ودریږه ، بیا په ارام سره سجده اوکړه ، بیا دسجدې څخه وروسته په ارم سره کښینه بیا دوهمه سجده په ارام سره اوکړه ، او همدارنګه خپل ټول لمونځ (رکعتونه) په همدغه شان سره اداکړه . (۱)-

دعلماو وینا ده چه رکوع سجده قومه او جلسه (د دوو سجدو په مینځ کښې ناسته) ترهغې وخته پوري نه صحیح کیږي ، تر څو چه په کښې اعتدال ونه کړی شي ، یعني دا ټول په ارام او اطمئنان سره ادا کول لازم او ضروري دي .

---

(۱) صحیح البخاری (۷۵۷، ۷۹۳)، صحیح مسلم (۳۹۷).

پورتنی حدیث دا لاربښونه کوې چه د لمانځه په ارکانو کښې تعدیل او طمانیت ( په ارام سره اداکول ) واجب دي چاچه دا پریښود ، نو هغه په یو حکم شرعي باندي عمل ونه کړو ، او دا حکم دهغه په غاړه پاتي شو او همدارنګه په رکوع او قومه کښې د اعتدال په اړوند دنبوي حکم ځخه دا واضحه کیږي ، چه درکوع ځخه د سر راپورته کولونه وروستو باید اعتدال اوکړی شي او بیړه ونه کړی شي .

ددي وجې نه لمونځ کونکی باید یواځې درکوع ځخه په راپورته کیدلو اکتفا ونه کړي ، بلکه درکوع ځخه دراپورته کیدو نه وروسته باید هم په ارام سره ودریږي تر ځو په قومه کښې هم اعتدال اوکړی شي .

درکوع ځخه سر راپورته کولو نه وروستو د اعتدال په وجوب باندي ګڼ شمیرصحیح حدیثونه شته مثلا:

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْبَدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ «لا تُجْزِئُ صَلاةُ الرَّجُلِ حَتَّى يُقِيمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ».

دابو مسعود بدري رضي الله عنه ځخه روایت دی وایي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : د سړي لمونځ نه صحیح

کيږي تر څو چه په رکوع او سجده کښې خپله ملا برابره نه کړي . (١) -

دا حديث ښکاره او واضحه دلالت کوي ، چه درکوع او سجدې څخه سر راپورته کولو نه وروستو اعتدال کول يو داسي رکن دی ، چه دهغې څخه پرته لمونځ نه صحيح کيږي .

همدارنګه نبي کريم ﷺ دلمانځه څخه غلاکونکی دمال دغلاګر څخه زيات بد معرفي کړی دی ، لکه څنګه چه په لاندې حديث کښې راغلي دي :

عَنْ اَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : « أَسْوَأ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلاتِهِ، لا يُتِمُّ

---

(١) سنن ابوداود (٥٣٣/١-٥٣٤)تفريع ابواب استفتاح الصلاة : باب صلاة من لا يقيم صلبہ فی الركوع والسجود (٨٥٥) سنن نسائی (١٤٣/٢) كتاب الافتتاح: باب اقامۃ الصلب فی الركوع ،جامع ترمذی (٢٢٦/١) ابواب الصلاة :باب ما جاء فی من لا يقيم صلبہ فی الركوع والسجود ،صحيح ابن خزيمہ (٥٩١،٥٩٢،٦٦٦)صحيح ابن حبان (١٨٩٢) - ددي حديث سند صحيح دی لکه چه ترمذي او الباني وغيره رحمهم الله ددي وضاحت کړی (١٦١/١)

رُكُوعَهَا وَلا سُجُو دَهَا وَلا خُشُوعَهَا» أو قال: «لا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ » .

**ناكاره غل په خلكو كښې هغه دى ، چه دلمانځه څخه غلا كوې ، يعنې دهغې ركوع او سجده په ښه شان سره نه ادا كوې ، اوهمدارنګه د هغه په لمانځه كښې عاجزي هم نه وي ، او په ركوع او سجده كښې خپله ملا هم نه برابره وي** . (١) -

**همدارنګه نبي كريم ﷺ لمونځ كونكى په لمانځه كښې د ټونګو وهلونه منع كړى دى ، او ديته يي د منافقانو لمونځ ويلى دى لكه په لاندي حديث كښې راغلي دي**

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ وَافْتِرَاشِ السَّبْعِ، وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ

---

**(١) مسند احمد (٥/٣١٠) صحيح ابن حبان (٥/٢٠٩) كتاب الصلاة: باب صفة الصلاة (١٨٨٨)معجم كبير (٣/٢٧٣) (٣٢٨٣)مستدرک حاكم (١/٢٢٩) سنن دارمى (٦/٣٢٢) كتاب الصلاة :باب فى الذى لا يتم الركوع والسجود(١٤٤٤)**

د عبد الرحمن بن شبل څخه روايت دی ، فرمايي چه نبي کريم ﷺ د کار غه په څير د ټونګو وهلونه ، او د ليوه په څير څنګلو خوره ولو نه، او په مسجد کښې د خپل ځان لپاره ځای خاص نيولو نه لکه څنګه چه اوښ دخپل ځان لپاره ځاې نيسي منع کړې ده . (١)-

۴ - دځنې لمونځ کونکو غلطې په قومه کښې د" ربنا ولک الحمد " سره د "والشکر" ټکی زياتوي ، او دا دنبي کريم ﷺ څخه ثابت نه دی .

۵- د سهار په لمانځه کښې هميشه دعاء قنوت لوستل ، او دضرورت په وخت کښې هغه پريښودل هميشه دسهار په لمانځه کښې دعاء قنوت لوستونکې د انس رضي الله عنه په لاندې حديث باندې استدلال کوې :

« مَا زَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَقْنُتُ فِي الصُبْحِ حَتىَّ فَارَقَ الدُنْيَا » نبي کريم ﷺ به هميشه دسهار په

---

(١) سنن ابو داود(۸۶۳)، سنن النسائی (۱۱۱۱) علامه الباني دې حديث ته حسن ويلې دي ، د تفصيل لپاره اوګوری الصحيحة (۱۱۶۸).

لمانځه کښې دعاء قنوت لوستله تر دې چه د دنيا څخه جدا شو يعنې وفات شو . (١)-

ليکن دا حديث صحيح نه دی ، ځکه چه ددي حديث دار مدار په ابو جعفر راضي باندي دی ، او ددي په اړه امام ابن المديني ويلي دي ، چه په ده باندي اختلاط راغلی وو، او ابوزرعه ويلي دي چه په ده باندي به وهم ډير راتللو ، ابن حبان ويلي چه ده به دمشهورو راويانو څخه منکر روايات په انفراد سره نقل کول (٢)-

---

(١) مسند احمد (٣/ ١٦٢) سنن کبریٰ (٢٨٧/٢) کتاب الصلاة : باب الدليل على انه لم يترک اصل القنوت فی صلاة الصبح الخ (٣١٠٤،٣١٠٥) سنن دار قطنی (٣٩/٢) کتاب الوتر : باب صفة القنوت وبيان موضعه ،شرح معانی الآثار (١٤٣) - دا حديث ضعيف دی لکه څنګه چه مؤلف ددي وضاحت کړی دی .

(٢) تهذيب التهذيب (٥٧/١٢)

او داسې حدیث هیڅ کله د دلیل نیولو جوګه نه وي چه په هغې کښې داسې کمزوری راوي انفراد یعنې یواځې شي .

او که داحدیث صحیح هم اټکل کړو ، نو بیاهم په دې سره د دغه خاص دعاء قنوت تعیین نه کیږي ، ځکه چه په دې حدیث کښې هیڅ داسې دلیل نشته چه د قنوت نه مراد دغه دعاء قنوت ده ، ځکه چه د قنوت اطلاق په قیام ( په لمانځه کښې ولاړه ) سکوت ( چپ کیدل ) په عبادت باندې همیشوالی کول ، دعا ، وغیره باندې کیږي، لکه دالله تعالی ارشاد دی فرمایي :

( وَلَهُۥ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ كُلّٞ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ) [الروم: ٢٦]. خاص د الله تعالی لپاره هغه څه دي چه په اسمانونو، او زمکه کښې دي ، او ټول هغه ته عاجزي کوي .

همدارنګه الله تعالی فرمایلي دي :

( أَمَّنۡ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيۡلِ سَاجِدٗا وَقَآئِمٗا يَحۡذَرُ ٱلۡأٓخِرَةَ وَيَرۡجُواْ رَحۡمَةَ رَبِّهِۦۗ ) [الزمر: ٩].

هغه څوک چه شپه تيروي د سجدې او قيام په حالت ( په عبادت ) كښې ، او داخرت څخه ويريږي او دخپل رب د رحمت او مهربانۍ اميد او طمع كوې ....
همدارنګه الله تعالى فرمايلي دي :

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَٰنِتِينَ
[التحريم: ١٢].

او ( مريم ) هغې د خپل رب په خبرو يقين اوکړو او هغه د عبادت كونكو دجملې څخه وه .

زيد بن ارقم رضي الله عنه ويلي دي ، چه هر كله د الله تعالى دا وينا (وَقُومُواْ لِلَّهِ قَٰنِتِينَ ) [البقرة: ٢٣٨].

او ودريږي الله تعالى ته تابعداری كونكې ، نازله شوه نو مونږ ته د چپوالي حكم وشو او دخبروكولونه په لمانځه كښې منع شو . (١)-

---

(١) صحيح بخارى (٣/٧٢ـ٧٣)كتاب العمل فى الصلاة : باب ما ينهى من الكلام فى الصلاة(١٢٠٠) تفسير سوره بقره : باب وقوموا لله قانتين ،صحيح مسلم (٣٨٣/١)كتاب المساجد ومواضع الصلاة :باب تحريم الكلام فى الصلاة ونسخ ماكان من ابا حته (٥٣٩)جامع ترمذى (٣١٢/١) ابواب الصلاة؛ باب فى نسخ الكلام فى الصلاة،سنن ابوداود (١/ ٥٨٣) تفريع ابواب الركوع والسجود : باب النهى عن الكلام فى الصلاة (٩٤٩) سنن نسائى (١٦/٣) كتاب السهو : باب الكلام فى الصلاة.

ددي بحث خلاصه داده چه هرکله د فقهاو او اکثرو علماو په نيزد قنوت اطلاق په دې مشهورې دعا ''اللهم اهدنی فيمن هديت '' باندي کيدلو او هغوې دا اوريدلي وو ، چه نبي کريم ﷺ تر اخردژوند پوري دا دعا لوستله ، او همدارنګه دنبي کريم ﷺ نه وروسته به صحابه کرامو هم دا دعا لوستله ، نو هغوې د قنوت داټکی په خپله اصطلاحې معنی باندي حمل کړه .

بيا ځني داسې خلک د فقهې او فتوا ميدان ته راغلل چه هغوې د قنوت ددي نورو معنی ګانوځخه خبر نه وو نو هغوې په يقين سره دا وويل چه نبي کريم ﷺ او دهغه صحابه کرامو د سهارپه لمانځه کښې دعا قنوت هميشه لوستلې ده .

خو دبلي خوا څخه جمهورو علماو د دوې خلاف کړی دی ، او ويلي دي چه دا دنبي کريم ﷺ هميشه فعل نه وو ، بلکه دا دنبي کريم ﷺ څخه ثابت نه دي . (١) -

د تعجب وړ خبره داده چه دوې په صحيح هغه حديثونو باندي عمل نه کوي کوم چه په قنوت نازله

زاد المعاد (١/٢٦٧ـ٢٦٨)

(١) زاد المعاد (١/٢٧٤).

باندې دلالت کوې ، او دسهار په لمانځه کښې هميشه ددعا قنوت باره کښې چه کوم حديث دى چه ثابت هم نه دى په هغې عمل کوې !

٦ – په اوسنۍ زمانه کښې په مسلمانانو باندې دهغوې د دين او دنيا په اړوند ډير مصيبتونه او تکليفونه راغلي دي ، او ددي سره بيا هم قنوت نازله پريښودل شوې ده ، ترد‌ې پوري چه دوي دخپل منځي اختلاف د وجې نه ديو بل مدد او ومرسته نه کوي دوي په خپلو ملکونو پردې ګڼل کيږي، او ددوي په ملکونو کښې د غيرو اثر دى ، په مسلمانانو باندي د تکليف او مصيبت په وخت کښې دلمونځونوپه اخري رکعت کښې د "سمع الله لمن حمده" ويلو نه وروستو دنبي کريم ﷺ نه قنوت نازله ثابته ده لکه چه په صحيح مسلم کښې د انس رضي الله عنه څخه روايت دى :

«قَنَتَ رَسُو لُ اللّهِ ﷺ شَهْرًا يَدْعُوعَلَى حَيئٍ مِنْ أحْيَاءِ الْعَرَبِ ثُمَّ تَرَكَهُ» . نبي کريم ﷺ يوه مياشت قنوت نازله لوستله او په دې کښې د عربو

ځني قبيلو ته ښيري کولې او بيا يي پريښوده . (١)
همدارنګه دابوهريره رضي الله عنه څخه هم دسهار په لمانځه کښې تر يوې مياشتې پورې دعا قنوت لوستل ثابت دي .

٧- د صحابه کرامو څخه په لمانځه کښې د قنوت نازله په وخت کښې د امين ويلو څخه پرته نور هيڅ الفاظ وغيره نه دې ثابت ، نو ددي وجې نه ځنې لمونځ کونکي په لمانځه کښې دخپل ځان نه ځنې ټکي زياتوي چه په هغې هيڅ ثبوت نشته ، دبيلګې په توګه د دويو د ( حق ) او ( اشهد ) ټکې ويل او همدارنګه چه کله کفاروته ښيري کيږي ، واو يا دمصيبتونو او شرونو دلري کولو دعا کيږي ، نو ځنې لمونځ کونکې خپل لاسونه نسکور کړې ، دا غلطې ده ځکه چه په دې باندې هيڅ صحيح حديث نشته .

---

(١) صحيح مسلم (٤٦٩/١)كتاب المساجد و مواضع الصلاة : باب استحباب القنوت فى جميع الصلوات اذا نزلت بالمسلمين نازلة (٦٧٧) سنن ابوداود (٢/ ٢٤٣ـ٢٤٤) تفريع ابواب الوتر : باب القنوت فى الصلاة (١٤٤٥) نسائى (٢/ ١٦٠) كتاب التطبيق : با ب ترک القنوت ،مسند احمد (١٦٧/٣).

٨- د دعا قنوت په وخت کښې دځنې لمونځ کونکو غلطې : ځنې لمونځ کونکي په لمانځه کښې په دعا قنوت کښې د "ولاىعز" په عين باندي د زير په ځاې زور وايي .

٩- د دعا ځخه وروسته په مخ باندې لاسونه راکش کول هم يوه غلطې ده ، ددي په اړوند عز بن عبد السلام تر دې پوري ويلي چه د دعا ځخه وروسته په مخ باندي لاسونه راکش کول دجاهلانو کار دى . (١)

---

(١) په دې باره کښې کمزور او ضعيف حديثونه شته کوم چه ددي په جائز والى باندي دلالت کوي ، دهغې حديثونو دجملې ځخه يو حديث امام ترمذي په جامع ترمذي کښې د عمر رضي الله عنه ځخه روايت کړى دى ، ،او دوه حديثونه امام ابو داود په سنن ابي داود کښې زکر کړي دي ، يو حديث د سائب بن يزيد عن ابيه دي او دوهم حديث د عباس رضي الله عنه ځخه روايت کړى دى .
ددې ټول حديثونوپه کمزور والي باندي د محدثينو اتفاق دى ، البته د ترمذي روايت د شواهدو سره امام سيوطي ، او ومناوي ، او ابن حجر حسن حديث ګرځولى دى ، ليکن ، ددي په خلاف باندې امام ابو داود ، امام بيهقي ددې حديثونو تضعيف کړى دى او همدارنګه امام الباني رحمه الله ددي حديثونو پوره وضاحت او په راويانو باندي جرح او دراويانود ترجمې نه وروستو د علمي اصولو په رڼا کښې دا واضحه کړې چه دا روايتونه د شواهدو سره هم د حسن درجې ته نشي رسيدلاى ، او دهغه چا غلطئ يي هم په ګوته کړي چا چه دا حديثونه حسن درجې ته رسولي دي .
"ارواء الغليل" (١٧٨/٢تا ١٨١)

١٠- دځني لمونځ کونکو غلطي دا هم ده چه هغوې دوترو دعا قنوت درمضان اخري نيمايي پوري خاص کوې ، ځکه چه دعاءقنوت درمضان اخري نيمايي پوري خاص نه ده ، بلکه په ټول کال کښې په وترو کښې دعاقنوت لوستل کيږي .

١١ - د اکثرو لمونځ کونکو ناپوهې داده چه هغوې د قنوت نازله په مهال "اللهم اهدني فيمن هديت" وايي ، او د دي دعا د مصيبت وغيره سره هيڅ تړاو نشته ، بلکه دا دعا يواځې په دعاءقنتوت دوترو کښې ويلي شي .

همدارنګه په دې دعا کښې نور ټکي زياتول هم مناسب نه دي ، لکه ځني امامان دمسجدونو په دې دعا کښې"فلك الحمد على ما قضيت استغفرك وأتوب إليك" (١)

ټکي زياتوې بلکه دنبي کريم نه ﷺ چه کوم الفاظ ثابت وي دهغې اهتمام کول غوره دي ، ددي د وجي

---

(١) :روضة الطالبين وعمدة المفتين للنووى (٢٥٣/١) فصل فى القنوت۔ اوګورى

نه مناسب داده چه دا الفاظ نه په دعا قنوت کښې وويل شي ، او نه په قنوت نازله کښې .

البته په نبي كريم ﷺ باندي درود ويل د عمر رضي الله عنه په زمانه کښې د ابي بن كعب رضي الله عنه دامامت په اړوند حديث کښې ثابت دي. (۱)

نو په دې باندې سلفو عمل کړی دی ، اګر که ابن حجر رحمه الله ددې انکار کړی دی . (۲) -

---

(۱) صحيح ابن خزيمه (۲/۵٦ـ۱۵۵) جماع ابواب ذكر الوتر وما فيه من السنن : باب فى بيان وتره صلى الله عليه وسلم فى الليلة التى بات فيها ابن عباس عنده (ص:۱۱۰۰)

(۲) اوګورئ : تلخيص الحبير (ص:۹۳) پاملرنه : حافظ ابن حجر باندي دا تنقيد صحيح نه دی ، ځکه چه هغه په صحيح ابن خزيمه ددي اثر تضعيف نه دی کړی ، بلکه هغه په سنن نسائي کښې دمرفوع حديث تضعيف کړی دی ، او په دې کښې هغه په حق باندي دی ، علامه الباني هم همدا نظر لري ، او علامه نووي چه ددي تحسين کړی دی په المجموع کښې نو هغه سهوه شوی دی (۳/٤۹۹)

واضحه ده چه دعا قنوت په وترو کښې د رکوع څخه مخکښې لوستل کيږې ، او قنوت نازله درکوع څخه وروستو لوستل کيږي، پرته درمضان داخري نيمايي نه ځکه چه هغه د دواړو قنوتو سره مشابهت لري کله چه په مسلمانانو باندي کوم يو مصيبت تکليف او ازميښت وغيره راشي ، لکه څنګه چه په هغه اثر کښې راغلي دي کوم چه ابن حجر روايت کړی دی (۱)

(۱)

په قنوت کښې دځنې غلطيانو څخه ( ان تر دې چه هغه څوک هم په دې غلطې کښې واقع دي ، څوک چه ددې دعا دسهار په لمانځه کښې هميشه دلوستلو قائل دي ) هغه داده چه دا دعا ډيره اوږده لوستل اوپه هغې باندې اواز ډير اوچتول ، زما ( په الله قسم ) چه مي ځنې داسې خلک هم ليدلي دي ، کوم چه مشهور دي او ورته په ګوتو باندي اشاري کيږي ، هغوې د سهار په لمانځه کښې هغه دعا قنوت ( کومه چه مشروع هم نه ده لکه دمخکې تحقيق نه معلومه

---

(۱) صحيح ابن خزيمہ (۲/۵۵ـ۱۵٦)جماع ابواب ذكر الوتر وما فيہ من السنن :باب فى بيان وتره فى الليلۃ التى بات فيها ابن عباس عنده(۱۱۰۰).

شوه ) په ډیر اوچت اواز سره وایي لکه چه د جمعې په ورځ باندي خطبه وایي ، همدارنګه ډیره زیاته اوږده یي لولي او کوشش کوې چه په مقفی (دشعر) ټکو سره یي ادا کړي او دښائست کوشش یي هم کوې ددي په وجه باندې لمونځ کونکو زړونه سختیږي ، او د الله نه په دې ښائست او مقفی ټکو سره غافله کیږي نو په دې کار کښې خیر نشته بلکه دا دشر کار دی خو شکایت یوائې الله تعالی ته دی .

## په سجده کښې دځنې لمونځ کونکو غلطیانې

د سجدې په مهال دځنې لمونځ کونکو غلطیاني ډیري دي ، ځنې په لاندي ډول بیانیږي اګر که په دې کښې ډیري غلطیاني د لمانځه د سنتو او مکملاتو ( هغه څه چه لمونځ ورباندې پوره کیږي ) سره تړاو لري .

**١ – د سجدې اندامونه په زمکه صحیح نه کیښودل**

(عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَعَلَى سَبْعٍ: اَلْجَبْهَةِ وَالانْفِ،وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَالقَدَمَيْنِ ) عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : ما ته حکم شوی دی چه زه په ووه اندامونو سره

سجده اوکړم ، مخ سره د پوزي نه ( دواړه په اندام شمار دي ) دواړه لاسونه ، او دواړه زنګنونه ، او دواړه قدمو نه . [(۱)]

دا حدیث دا لاربنونه کوي چه د سجدې اندامونه اوه دي او دلمونځ کونکي لپاره مناسب ده چه په دې ټولو باندي په صحیح توګه سجده اوکړي .

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : « لا صلاة لمن لا یمس انفه الارض ما یمس الجبین »

دهغه چا لمونځ نه کیږي ، چه دتندي په څیر خپله پوزه په زمکه ونه لګوي . (۱) -

---

(۱) صحیح مسلم (۳۵۵/۱) کتاب الصلاة : باب اعضاء السجود والنہی عن کف الشعر والثوب وعقص الراس (٤۹۰)،سنن نسائی (٦٤/۲ـ١٦٥)کتاب التطبیق : باب السجود على الانف ،صحیح بخاری (۲۹٥/۲ـ۲۹۷) کتاب الاذان :باب السجود على سبعة اعظم (۸۰۹)باب السجود على الانف (۸۱۲) سنن ابن ماجہ (۲۸٦/۱) کتاب اقامة الصلاة والسنة فیها : باب السجود (۸۸٤) سنن دارمی (۳۰۷/٦) کتاب الصلاة: باب السجود على سبعة اعظم وکیف العمل فی السجود (۱٤۳٥)مسند احمد (۱/ ۳۰۷،۲۹۲)۔

پام لرنه : دمخکني حدیث الفاظ د ابن عباس رضي الله عنه په روایت کښي دي ، او د عباس بن عبد المطلب په روایت کښي الفاظ داسي راغلي دي : کله چه بنده سجده کوي ، نو ورسره دهغه اوه اندامونه هم سجده کوي دهغه مخ او دهغه دواړه څنګلي ، او زنګنونه او دواړه قدمونه .

په دې سره دهغه چا غلطي ښکاره کيږي ، څوک چه په سجده کښې خپل تندي په زمکه ږدي خو پوزه بيا د زمکې سره نه لګوې ، يا دواړه قدمونه د زمکې نه پورته کوې ، او يايې په يو بل دبره داسې کيږدي چه د زمکې سره نه وي لګيدلي ، نو دده سجده په پنځو يا شپږو اندامونو سره راځې او دسجدې اوه معلوم اندامونه لکه څنګه چه مخکښې حديث کښې ذکر شو .

نبي کريم ﷺ هغه چاته فرمايلي وو ، چه په لمانځه کښې غلطي کوله:

«إِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنْ لِسُجُوْدِكَ» کله چه سجده کوې اندامونه په ښه توګه کيږده . (٢)-

---

(١) سنن دار قطني (٣٤٨/١)كتاب الصلاة : باب وجوب وضع الجبهة والانف . دې حديث ته امام درقطني مرسل ويلى دى ، ځکه چه ددې په نظر دا حديث يواځې ابو قتيبه مسند روايت کړى دى ليکن علامه ابن الجوزي په: "التحقيق کښې فرمايلي ابو قتيبه ثقه راوي دى امام بخاري ترې هم روايت کړى دى ، او دثقه راوي زيادت معتبر دتفصيل لپاره : التعليق المغنى على سنن الدار قطنى (٢٤٩/١)-اوګورى

(٢) سنن ابو داود (٥٣٧/١ـ٥٣٨) تفريع ابواب استفتاح الصلاة: باب صلاة من لا يقيم صلبه فى الركوع والسجود (٨٥٩) مسند احمد (٣٤٠/٤) - علامه الباني دې حديث ته حسن ويلى دى ، تفصيل لپاره ( صحيح سنن ابى داؤد (١٦٢/١) اوګورى

## ۲- په سجده کښې بيړه کول :

په رکوع او قومه کښې مو ځنې غلطيانې ذکر کړې او دا مو هم ذکر کړه چه نبي کريم ﷺ دهغه چا د لمانځه د فساد فيصله کړې ده څوک چه په رکوع او سجده کښې خپله ملا نه سيده کوې بلکه بيړه کوې او همدارنګه نبي کريم ﷺ هغه چاته چه لمونځ په صحيح توګه نه اداکوو ، دا حکم کړی وو ، چه په اطمئنان سره سجده کوه ، او همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي : چه بد ترين غل هغه دی ، چه دلمانځه څخه غلا کوي دهغې رکوع او سجده په ښه توګه نه اداکوې .

په سجده وغيره کښې بايد ښه اطمئنان وي هغه داسې چه سجده بايد په اوه اندامونو سره په ښه توګه ادا کړی شي دواړه څنګلې بايد داسې خوري کړی شي.

چه قبلي ته مخامخ وي ، او دلاسونو ګوتې بايدخپل مينځ کښې يوځاي وي ، او دغوږونو يا د اوږو برابر ې وي او همدارنګه قدمونه بايد داسې پورته کړی شې چه د يو بل سره يو ځاې اودښپو ګوتي بايد دقبلي په

لور وي او ځنګلي د زمکې نه پورته وي ، او دومره بايد کلاو وې چه د تخرګونو سپين والی ښکاره شي .
او په سجده کښې بايد بيړه ونه کړی شي ترڅو هر اندام خپل ځاي ته ورسيږي او ودسجدي اندامونه بايد په ښه شان سره په زمکه ولګول شي .

## ۳- د سجدې په اړوند ځنې غلطيانې

مخکې ځنې غلطيانې ذکر شوې او دهغې څخه د سجدې کولو صحيح طريقه هم واضحه معلومه شوه ځنې لمونځ کونکې په سجده کښې يوڅه شمير غلطيانې کوې تر دې چه په دغه سجده کښې دنبي کريم ﷺ طريقه نه ليدل کيږي ، او ځنې خلک خو بيا په سجده کښې د ځنې منهياتو ارتکاب هم کوې حالانکه د سجدې په مهال بنده خپل رب ته ډير نيږ دي وي .

ددې مسئلې وضاحت په لاندې ډول دی :
ځنې لمونځ کونکې په سجده کښې خپلې متې د تخرګونو سره لګوې او سنت داده چه بايد دا دواړه ديو بل څخه لرې او جداشې ، او همدارنګه خپله خيټه د وره نونو سره لګوې ، حالانکه سنت داده چه خيټه بايد د وره نونو څخه لرې او جدا وساتل شې او څنګلې بايد د اوګو يا د غوړونو برابر کيښودل شې .
ليکن په دې مخکې ذکر شوي جدا والي کښې بايد د حد څخه تجاوز ونه کړ ی شي ، او نورو خلکو ته بايد تکليف ورنه کړ ی شې .
ځنې لمونځ کونکې په لمانځه کښې د ځناورو سره مشابت اختياره وي ، او په دې سره د لمانځه سپکاوی او دهغې څخه بې پروايي راځې ، لکه ځنې لمونځ کونکې په لمانځه کښې د ګيدړ په څير يو خوا بل خوا ګوري او ويا دسجدې په مهال لاسونه دځناورو په څير په زمکه غوړه وي اودکارغانو په څيرټونګې وهې
او يا په مسجد کښې دخپل ځان لپاره د اوښ په څير ځاې نيسې اويا داسونو دلکيو په څير دسلام ګرځولو په مهال لاسونه خوزوي .

**علامه ابن قیم رحمه الله فرمایلي دي : په اسلامې شریعت کښې دحیواناتو ، شیطانانو ، ښځو ، بانډه چیانو ، او هر ناقص څیز سره د مشابهت اختیاره ولو نه منعه راغلې ده .**

**ددي دوجې نه په لمانځه کښې د ډیرو ځناورو دمشابهت څخه منعه راغلې ده ، خو ناپوهه خلک په هغې کښې واقع کیږي .**

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ وَلا يَبْسُطْ اَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ اِنبِساطَ الْكَلْبِ».

**دانس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی فرمایي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : تاسو په سجده کولو کښې**

برابر والی کوي ، اودسپي په څیر خپلي څنګلي په زمکه مه غوړه وي . (۱) -

لیکن افسوس په دې چه د سجدې په مهال ښپې د زمکې څخه پورته کول ، او ګوتې قبلې لور ته نه ګرځول داهغه څنې غلطیانې دي چه ډیر لمونځ کونکې په کښې واقع کیږي شاید چه ددې کتاب د لوستلونه بعد دوې ددې غلطیانو څخه ځانونه وژغوري ، الله تعالی څخه دعا کوو ، چه مونږ او تاسو ټولوته دنبي کریم او دهغه د صحابه کرامو تابعدارې را په برخه کړي - (آمین) -

(۱) صحیح بخارى (۱۵/۲) کتاب مواقیت الصلاة : باب المصلى يناجى ربہ عز و جل (۵۳۲)،(۳۰۱/۲) کتاب الاٴذان: باب لا يفترش ذراعيہ فى السجود (۸۲۲) صحيح مسلم (۱/ ۳۵۵) کتاب الصلاة : باب الاعتدال فى السجود ووضع الكفين على الارض الخ (۴۹۳)سنن ابوداود (۵۵٤/۱)تفريع ابواب الركوع والسجود : باب صفة السجود (۸۹۷) جامع ترمذى (۲۳۳/۱) ابواب الصلاة :باب ماجاء فى الاعتدال فى السجود ،سنن نسائى (۱٤۳/۲) کتاب الافتتاح :الاعتدال فى الركوع (۱٦۹/۲) كتاب التطبيق : باب الاعتدال فى السجود ،سنن دارمى (۳۱۲/٦) كتاب الصلاة: باب النہى عن الافتراش ونقرة الغراب(۱٤۳۸) مسنداحمد (۳/۲۹۱،۲۷۹،۲۷٤،۲۱٤،۱۹۱،۱۷۹،۱۷۷،۱۱۵،۱۰۹)

همدارنګه د سجدې په مهال د لاسونو ګوتي راغونډول او يوه ښپه په بله کيښودل داهغه غلطې ده چه ډير لمونځ کونکې په کښې مبتلا دي ، الله تعالی دې مونږ او هغوې ته د سمې لارې هدايت اوکړې . (آمين)

۴ – دسجدې ځنې اندامونه ښکاره کول او په زمکه باندې پرته د څه حايل څخه سجده لازم ګڼل .

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ فَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَحَدُنَا أَنْ يُمَكِّنَ جَبْهَتَهُ مِنْ الأَرْضِ بَسَطَ ثَوْبَهُ فَسَجَدَ عَلَيْهِ.

دانس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی فرمايي چه مونږ به دنبي کريم ﷺ سره په سخته ګرمۍ کښې لمونځ کولو ، کله چه به يو کس د سختې ګرمۍ دوجې نه نشو کولاې چه په زمکه سجده اوکړي ، نو خپله جامه به يې خوره کړه او په هغې باندې به يې سجده اوکړه . (۱) -

(۱) صحيح بخارى (۱/۲،۴۹۲/۲۲ـ۲۳ ،۳/۸۰)كتاب الصلاة:باب السجود على الثوب فى شدة الحر(۳۸۵)كتاب مواقيت الصلاة:باب وقت الظهر عند الزوال(۵۴۲) كتاب العمل فى الصلاة :

علامه شوکاني ويلي دي : ددي حديث څخه په هغه جامه باندې چه د بدن سره نښتې وې د سجدې کولو جواز معلومېږي . (١) -

امام نووي ويلي دي : چه همدانظر د امام ابو حنيفه رحمه الله او جمهورو علماو دی ، البته امام شافعي رحمه الله دا حديث په جدا جامه باندې حمل کړی دی . (٢) -

باب بسط الثوب فى الصلاة للسجود (١٢٠٨) صحيح مسلم (١/ ٤٣٣) كتاب المساجد ومواضع الصلاة: باب استحباب تقديم الظهر فى اول الوقت فى غير شدة الحر (٦٢٠) سنن ابوداود (١/ ٤٣٠) كتاب الصلاة : باب الرجل يسجد على ثوبه (٦٦٠)جامع ترمذى (٤٠٥/١) ابواب الصلاة: با ب ماذكر من الرخصة فى السجود على الثوب فى الحر والبرد ،سنن نسائى (١٧١/٢) كتاب التطبيق : باب السجود على الثياب ،سنن ابن ماجه (٣٢٩/١) كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها : باب السجود على الثياب فى الحر والبرد (١٠٣٣) سنن دارمى (٣٣٥/٦) كتاب الصلاة : باب الرخصة فى السجود على الثياب فى الحر والبرد (١٤٥٣) مسند احمد (١٠٠/٣)

(١) نيل الاوطار (٢٨٩/٢)

(٢) شرح مسلم للنووى (١٢١/٥)

# ٥ - د مریض د سجدې کولو لپاره یو څیز ورپورته کول .

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِي اللّٰهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: عَادَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ رَجُلا مِنْ أَصْحَابِهِ مَرِيْضًا وَأَنَا مَعْهُ؛ فَدَخَلَ عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي عَلَي عُوْدٍ؛ فَوَضَعَ جَبْهَتَهُ عَلَى الْعُوْدِ؛ فأومأ إلَيْهِ؛ فَطَرَحَ اَلْعُوْدَ وَأخَذَ وَسَادَةً؛ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : «دَعْهَا عَنْكَ - يَعْنِي: ألوِسَادَةَ- إنْ اسْتَطَعْتَ أنْ تَسْجُدَ عَلَىَ الأرْضِ وَإلا فَأَوْمِ إيْمَاءً وَاجْعَلْ سُجُوْدَكَ أخْفَضَ مِنْ رُكُوْعِكَ».

**دعبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی فرمایي نبي کریم ﷺ د یو مریض ملګري پوښتنه کوله او زه ورسره وم ، نبي کریم ﷺ هغه ته په داسې حال کښې ورغی چه هغه په لرګي باندي لمونځ کولو ، نبي کریم ﷺ ورته اشاره اوکړه ، نو هغه لرګی ګذار کړو او بالښت یي راوخیست نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چه بالښت هم لري کړه ، که کولای شي چه په زمکه**

سجده اوکړي ، نو په زمکه سجده اوکړه ، او که په زمکه سجده نشي کولاې نو په اشاره کولو سره لمونځ کوه ، او سجده د ركوع څخه ښکته کوه . (١) -

---

(١) معجم كبير (١٢/ ٢٦٩ـ٢٧٠) (حديث رقم: ١٣٨٢) - پاملرنه : د دې حديث په سند باندې علامه هيثمي جرح کوې او فرمايي چه ددي حديث په سند کښې حفص بن سليمان منقري دى او هغه متروک دى ، او امام احمد ورته په صحيح قول کښې کمزورى ويلى دى ، البته ابن حبان ورته ثقه ويلى دى ، ،مجمع الزوائد (٢/ ١٥١) - ليکن د علامه هيثمي دا جرحه صحيح نه ده ، ځکه چه حفص بن سليمان ثقه راوي دى ، امام ابوحاتم ورته لاباس به ويلى دى ، امام بخاري ، امام نسائي ، ابن حبان ، ابن ورته ثقه ويلى دى ، امام احمد ورته صالح ويلى ، او ابن حجر همدا قول نقل کړى دى د تفصيل لپاره : تهذيب التهذيب (٤٠٢/٢) اوګور ى حافظابن حجر ورته په تقريب کښې ثقه ويلى دى ، او هرچه د حفص په نوم کمزورى راوي دى ، نو هغه حفص بن سليمان بزاري دى ، لکه څنګه چه په تهذيب التهذيب کښې ددي وضاحت موجود دى .

٦- په سجده سهوه سبحان من لايسهو ولاينام ويل .

دځنې لمونځ کونکو غلطي داهم ده چه کله په لمانځه کښې سهوه شي ، نو په سجده سهوه کښې بيا ”سبحان من لا يسهو ولا ينام“ وايي او ځنې په کښې دا ايت وَمَا كَانَ رَبُّكَ نَسِيًّا " [مريم: ٦٤] ځنې په کښې (رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا "[البقرة: ٢٨٦] وايي ليکن په اسلامي شريعت کښې ددې هيڅ د باور وړ اصل نشته .

٧- په لمانځه کښې داامام سهوه کيدلو په اړه يو غلط ګمان :

په دې مقام باندې بايد دهغه چا غلط ګمان طرف ته اشاره اوکړو ، څوک چه دا ګمان کوې چه امام په لمانځه کښې ځکه سهوه کيږي يا وربانديې لوستل کډوډيږي ، چه مقتديانو په صحيح توګه طهارت (اودس) وغيره نه وي کړې ، او په دې باره کښې په لاندې روايت باندې باور کوې .

عَنْ شَبِيبٍ أَبِي رَوْحٍ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ صَلَّى صَلاةَ الصُّبْحِ؛ فَقَرَأَ الرُّومَ فَالْتَبَسَ عَلَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ: مَا بَالُ أَقْوَامٍ يُصَلُّونَ مَعَنَا لا يُحْسِنُونَ الطُّهُورَ؛ فَإِنَّمَا يَلْبِسُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ أُولَئِكَ.

**شبيب ابو روح د يو صحابي څخه روايت کوي چه نبي کريم ﷺ دسهار لمونځ کولو او په هغې کښې سورت روم لوستلو نو دهغې لوستل ورباندې کډوډ شو کله چه يي لمونځ اوکړو ، نبي کريم ﷺ اوفرمايل څه وجه ده چه زمونږ سره ځني خلک لمونځ کوې او هغوې په ښه توګه طهارت ( اودس ) نه کوې همدې په مونږ باندې لمونځ کډوډه وې .** (١) -

---

**(١) سنن نسائی (١٢/ ١٢٠ـ١٢١) کتاب الافتتاح : باب القرأة فی الصبح بالروم - د سنن نسائي دا حديث ضعيف او کمزوری دی ، لکه څنګه چه مؤلف رحمه الله ددي وضاحت کړی دی ، او علامه الباني ورته هم ضعيف ويلی دی ، "ضعيف سنن نسائی " (٣١)- ليکن ددې حديث دضعف سبب هغه نه دی ، کوم چه مؤلف ذکر کړی دی ، ځکه چه شبيب بن نعيم ابو حفص**

دا حدیث ضعیف او کمزوری دی ، ځکه چه په دي حدیث کښې د شبیب څخه مراد ابن نعیم و او دیو بلې وینا مطابق ابن ابي روح دی ، دده کنیه ده ابو روح حمصي امام ابن القطان ویلي دي چه دده عدالت نامعلوم دی . (۱) -

---

ثقه راوي دی امام ابن القطان خو ورته مجهول الحال ویلی دی ، لیکن نورو محدیثو ورته ثقه ویلی دی ، د تفصیل لپاره اوګوری : تہذیب التہذیب (۳۰۹/٤ـ۳۱۰) همداوجه ده چه حافظ ابن حجر په تقریب کښې د علماو د وینا خلاصه ذکر کړیده ، او حکم یي کړی دی چه " ثقة من الثالثہ اخطأ من عده فی الصحابہ ' بلکه ددي حدیث د ضعف وجه هغه عبد الملک بن عمیر راوي دی ، لکه چه علامه الباني ددي صراحت کړی دی او ویلي دي چه ددي حدیث راویان ثقه دي پرته عبد الملک بن عمیر څخه ځکه چه دده حافظه کمزوري شوې وه ، بلکه ابن معین ویلي چه په ده باندي به په حدیث کښې اختلاط راتللو ، ابن حجر رحمه الله ویلي دي چه ده به کله کله تدلیس هم کولو: مشکوة المصابیح بتحقیق البانی (۹۷/۱)

(۱) تہذیب التہذیب (٤/ ۳۰۹)

او ددي نه علاوه په دې حديث کښې يوه بله وجه دضعف هم شته دی ، او همدارنګه د الله تعالی ددي وينا ﴿وَمَنْ أَسَآءَ فَعَلَيْهَا﴾ " [فصلت: ٤٦] دمفهوم هم مخالف دی .

قعده ، تشهد ، سلام ، او په هغې کښې د ځني لمونځ کونکو غلطياني :

اخيره قعده او تشهد د لمانځه دارکانو څخه دي ، او په دې دواړو کښې ځني لمونځ کونکي غلطياني کوي چه په هغې باندې تنبيه ورکول مناسب دي ، نو ددي لپاره يې په لاندې ډول د ليدونکو مخې ته ډالی کوو.

١- په تشهد کښې دالسلام عليک أيها النبي په اړه غلطي :

امام بخاري په خپل صحيح کښې د نبي کريم ﷺ حديث ذکر کړی دی ، چه کله په تاسو کښې يو کس لمونځ کوي نو هغه دي

«التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ»......... ووايي [(١)]-

---

(١) صحيح بخارى

حافظ ابن حجر رحمه الله ويلي دي چه ددي حديث په ځني نورو طريقو کښي داسې الفاظ راغلي دي کوم چه دنبي کريم ﷺ په زمانه او دهغې دزماني څخه وروستو زمانه کښې د فرق او جدا والي غوښتنه کوې هغه داسې چه د نبي کريم ﷺ په زمانه کښې د مخاطب صيغه يعني (السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ ) او د نبي کريم ﷺ د وفات کيدلو نه وروستو د غائب صيغه ( السلام على النبي ) ولوستل شې لکه څنګه چه امام بخاري په خپل صحيح : كتاب الاستيذان (٥٦١١) ( ٦٢٦٥) نمبر حديث کښي د ابو معمر بن مسعود په طريقې سره روايت کړی دی ، هغه د تشهد طريقه بيان کړی ده او ويلي يي دي چه ( وهو بينا أظهرنا فلما قبض قلنا السلام ) دا به مونږ هغه وخت ويلو چه نبي کريم ﷺ زمونږ په مينځ کښي وو او چه کله وفات

(٢/٣،٣٢٠،٣١١/١١،٧٦/١٣،١٣١،١٣/٣٦٥) كتاب الاذان : باب التشهد فى الآخرة (٨٣١) باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد وليس بواجب (٨٣٥) كتاب العمل فى الصلاة : باب من سمى قوماو سلم فى الصلاة على غيره مواجهة وهو لا يعلم (١٢٠٢) كتاب الاستيذان : باب السلام اسم من اسماء الله تعالىٰ (٦٢٣٠) كتاب الدعوات: باب الدعاء فى الصلاة (٦٣٢٨) كتاب التوحيد : باب قول الله تعالىٰ " السلام المومن " (٧٣٨٨)

شو نو دهغه د وفات كيدلو څخه وروستو به مونږ
(السلام على النبي) ويلو دا الفاظ په صحيح بخاري
کښې راغلي دي البته ابو عوانه په خپل صحيح کښې
اوهمدارنګه ،سراج ، جورقاني ، ابونعيم اصبهاني ، او
بيهقي د امام بخاري استاد ابونعيم پوري دا حديث په
مختلفو طريقو سره په دي دالفاظو تخريج کړی دی:
دنبي كريم ﷺ دفات څخه وروسته به مونږ
(السلام على النبي) ويلو او همدارنګه ابن ابي شيبه
دابو نعيم نه هم روايت کړی دی. (١) -

---

(١) فتح البارى (٢/ ٣١٤) د درود ويلو په اړه مخكې ذكر شوى نظر د عبد الله بن مسعود او ځني نورو صحابه كرامو ودى ، ليكن دجمهورو صحابه كرامو او تابعينو فقهاو او محدثينو په دې اتفاق دی چه درود دنبي كريم صلى الله عليه وسلم په زمانه او همدارنګه دهغه د وفات كيدلونه وروستو په همدغه صيغه د مخاطب باندي ويل كيږي ، اوهمدا نظر راجح او وقوي دى ، ځكه چه دا په مرفوع احاديثو وسره ثابت دى ، او همدارنګه د تشهد په اړه راغلي احاديثو كښې دنبي كريم صلى الله عليه وسلم دا وينا چه "اذا صلى احدكم " او همدارنګه "ولكن قولو ا " كښې چه كوم دخطاب صيغي دي دا تر قيامته پوري هر چاته شامليږى حاضر وي او كه غائب وي ، لكه څنګه چه د اوداسه ، لمانځه ، حج ، زكات وغيره باره كښې د خطاب صيغي هر چاته شامليږي ، او داسي هيڅ حديث نشته چه په هغې كښې نبي كريم صلى الله عليه وسلم دغائب لپاره جدا تشهد ذكر كړى وي .

**٢- په لمانځه کښې د تشهد يا درود په مهال لفظ د "سيدنا" زياتول :**

**د حافظ ابن حجر رحمه الله څخه په لمانځه يا د لمانځه نه بغير په نبي کريم ﷺ باندې د درود ويلو په اړه پوښتنه وشوه ، چا ايا په نبي کريم ﷺ باندې په درود ويلو کښې لفظ د سيدنا ويل شرط دي ؟**

**د مثال په توګه داسې ويل چه**" اللهم صل على سيدنا محمد" يا "على سيد الخلق" يا "سيد ولد آدم" **يا**

---

بر سيره پر دې چه په طحاوي ، بزار ، طبراني ، کښې د عبد الله بن زبير په روايت ، او په مسند احمد ، او طبراني کښې د عبد الله بن مسعود په روايت کښې په دې خبره تصريح ده چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم همدغه تشهد لوستلو ، او همدا تشهد يې دمخاطب په صيغې سره صحابه کراموته ښودلی وو ، او په هغې کښې دغائب او حاضر هيڅ فرق نه دی کړی ، او همدارنګه صحابه کرام به د جهاد او غزاګانو وغيره په سفرو تلل ، او ځني صحابه کرام داسې هم وو، چه دنبي کريم نه به ليرې وسيدل ، ددې څخه داخبره ښه واضحه کيږي ، چه درود ويل د خطاب په صيغه سره دا يو امر تعبدي دی او خپل عقل او قياس لره په کښې هيڅ دخل او ګنجائش نشته ، نو ددې وجې نه قياس دعبد الله بن مسعود رضي الله عنه قابل د قبلولو نه دی ، او تشهد د مخاطب په صيغې سره لوستل مسنون دی ديته دغلطي نسبت کول خپله غټه غلطي ده .

يوائځې "اللهم صل على محمد" ويلو باندې اکتفا اوکړی شي .

او همدارنګه ايا لفظ د سيدنا ويل غوره دي ، ددې لپاره چه دهغه په حق کښې لفظ د سيد راغلی دی اوکه د دې پريښودل يې غوره له دې وجې نه چه دا په تشهد کښې دنبي کريم نه ثابت نه دی ؟

ابن حجر رحمه الله د دې پو ښتنې په جواب کښې ويلي دي : چه هغه الفاظ ويل غوره کوم چه په حديث کښې راغلي وي ، او داسې څوک نشې ويلی چه کيدی شي چه نبي کريم ﷺ دا لفظ د سيد د عاجزئ په خاطر پريښی وي، او دامت لپاره غوره دې چه لفظ د سيد ووايي ، کله چه د نبي کريم ذکر اوکړې ، ځکه چه که دا ويل غوره وی ، نو دصحابه کرامو څخه او بيا به د تابعينو څخه خامخا ثابت وی .

او حال دادی چه په دې باره کښې د صحابه کرامو او تابعينو څخه ډير اثار نقل دي ، خو په دې اثارو کښې ددې لفظ د سيد ويلو هيڅ دليل نشته ، امام شافعي رحمه الله – الله تعالی دې دهغه درجې لوړې کړې - سره د دينه چه هغه دنبي کريم ﷺ ډير تعظيم کونکی هم دی ، خو هغه د خپل هغه کتا ب په خطبه کښې کوم چه د شوافعو لپاره د اساسي مرجع حيثيت لري دا سې ويلي دي ( اللهم صل على محمد ) (١)۔

## پاملرني :

په دې ځاې کښې يو څو خبرو ته اشاره کول بهتره دي

٣- لمړی: حديث د«لاتسيدوني في الصلاة » لفظ (لاتسيدوني ) صحيح نه دی بلکه صحيح لفظ هغه ( لاتسودوني ) دی خو داحديث موضوعي دی او په دې معنی باندې هيڅ صحيح حديث نشته (٢)

---

(١) : صفة الصلاة النبی (ص: ٧٢-١٧٣)

(٢) ډيرو محدثينو دې حديث ته موضوعي ويلی دی ، لکه علامه سخاوي ، ملا علي قاري حنفي ، وغيره ، همدارنګه علامه عجلوني د دعلامه ناجي څخه نقل کوې وايي : چه دا حديث سراسر دروغ دي ، عام خلک دا حديث دبيانولو په وخت کښې په يا سره (سيدوني) وايي بلکه صحيح لفظ په واو سره دی ،

۴- دوهم: ډير لمونځ کونکي په لمانځه کښي درود ويلو په مهال د درود ابراهيمي دمختلفو صيغو ( الفاظو ) څخه يو ه شريکه صيغه جوړوي لکه چه ځني لمونځ کونکي په درود دکښي داسي وايي :

(اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ فِي العالمين إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ) ليکن دارنګه د مختلفو صيغو څخه يوه صيغه جوړه ول جواز نلري ، ځکه چه عبادات ټول توقيفي دي ، او دځان نه په ماثور دعاګانو کښي زياتی يا کمی کول جائز نه دي ، او دا پورتنۍ صيغه د درود په هيڅ يو حديث کښي نه ده راغلي بلکه دا د دي لاندي دوه صيغو د درود څخه جوړه شوي ده .

١- اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ على إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ

---

( سودوني ) كشف الخفاء (٢/٤٥ـ٣٥٥) موضوعات كبرىٰ (ص: ٣٦٥)

مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (١)

٢ - "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ [النبي الأمي] وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى [آل] إِبْرَاهِيمَ وبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى [آل] إِبْرَاهِيمَ فِي العالمين إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ" (٢)

٥- دريم : په اخره قعده كښې د تشهد ويلو نه وروسته د درود ويلو د حكم باره كښې د علماء كرامو اختلاف شته ، خو غوره او راجح قول د وجوب دى ، او

---

(١) صحيح بخارى (٦/٤٠٨) كتاب الانبياء : باب نمبر (١٠) سنن كبرى (٢/ ٢١٢) كتاب الصلاة: باب الصلاة على اہل بيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وہم آلہ (٢٨٥٦) سنن نسائى (٣/ ٤٠) كتاب السہو : باب كيف الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم .

(٢) سنن ابوداود (١/ ٦٠٠-٦٠١) تفريع ابواب الركوع والسجود : باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم بعد التشہد (٩٨١) سنن كبرىٰ (٢/ ٢١٠) كتاب الصلاة : باب الصلاة على البنى صلى الله عليه وسلم بعد التشہد (٢٨٤٩) دا حديث حسن دى لكه ځنګه چه علامه الباني رحمه الله په "صحيح ابوداود " (١٨٤) كښې ددې صراحت كړى دى .

ددي دليل حديث د فضاله بن عبيد رضي الله عنه دی چه نبي کريم ﷺ يو لمونځ کونکی وليده چه هغه په لمانځه کښې د الله تعالی حمد او ثنا او همدارنګه په نبي کريم ﷺ باندې درود ونه وايو ، نبي کريم ﷺ اوفرمايل : چه ده په لمانځه کښې بيړه اوکړه ، بيا دالله تعالی رسول ﷺ اوفرمايل : چه کله تاسو لمونځ کوې نو د الله تعالی حمد او ثنا څخه يې شروع کوې ، او په نبي کريم ﷺ باندې د درود ويلو کوشش کوې ، او بيا خپل حاجت د الله تعالی نه اوغواړی . (١)-

زمونږ شيخ علامه الباني رحمه الله په خپل کتاب ( صفة صلاة النبي ﷺ ) کښې هم د وجوب قول غوره کړی دی (٢) .

---

(١)٣مسند احمد (٦/ ١٨) سنن ابوداود (٢/ ١٦٢) تفريع ابواب الوتر : باب الدعا ء (١٤٨١) - علامه الباني رحمه الله دې حديث ته صحيح ويلی دی . ، صحيح سنن ابوداود (٢٧٨/١)

(٢) صفة صلاة النبی ﷺ ،ص: ١٨٢.

هغه فرمايي : چه دا حديث د تشهد نه وروسته د درود ويلو په وجوب باندې ښکاره دليل دی ، ځکه چه په دې کښې د درود په ويلو باندې امر راغلی دی .

همدارنګه امام شافعې ، امام احمد دروستني قول مطابق ، او د دوې نه مخکې په صحابه کرامو کښې هم دځنې صحابه کرامو همدا نظر د وجوب وو ، ددې وجې نه چا چه امام شافعې ته په دې مسئله کښې د شذوذ نسبت کړی دی ، نو دهغوې د ا نسبت امام شافعې ته په انصاف او عدل باندې بنا نه دی ، لکه څنګه چه امام هيتمي رحمه الله په خپل کتاب ( الدر المنضود في الصلاة والسلام على صاحب المقام المحمود ) کښې ددي وضاحت کړی دی (١) - .

---

(١) علامه صنعاني هم ددې حقيقت وضاحت کړی دی د تفصيل لپاره اوګورئ : ( العدة على احكام الاحكام شرح العمدة : ٣/ ٢٠)
پاملرنه : دا مسئله ډيره اختلافې ده د علماو په مينځ کښې دجمهورو علماو موقف دادی چه درود ويل واجب نه دي ، او د دوې په استدلا کښې کافي وزن شته ، خو د وجوب په قو ل کښې احتياط ډير دی ، ليکن په دې مسئله کښې دومره زيات تشدد کول مناسب نه دي چه درود ويل د لمانځه رکن مقرر شي او په نه ويلو باندي د لمونځ د باطلولو حکم اوکړی شي ، ځکه چه هغه دلائل چه د درود په وجوب باندې دلالت کوې په هغوې ټولو کښې نور احتمالات هم شته ، لکه څنګه چه علامه شوکاني ددي تفصيلي

## ۶ - څلورم : داخبره بايد هم واضحه وي چه درود ويل يواځې د دوهم تشهد سره خاص نه دي بلکه په لمړي تشهد کښې هم د درود ويل مشروع دي - (۱)

---

وضاحت کړی دی ، سر بيره پر دې چه د فضاله بن عبيد حديث په کوم باندې چه مؤلف د وجوب استد لال کړی دی ، په هغې کښې نبي کريم صلی الله عليه وسلم هغه لمونځ کونکي ته د لمانځه د بيا کولو حکم نه دی کړی ، ددې وجې نه علامه شوکاني هم د جمهورو علماو په څير د عدم وجوب موقف غوره کړی دی ، د تفصيل لپاره اوکورئ : نيل الاوطار (۲/ ۲۹۵تا ۳۰۰) .

(۱) په دې مسئله کښې د مذکوره موقف په خلاف باندې جمهورو سلفو او خلفو اتفاق کړی دی ، زما دعلم برابر په مخکنو علماو کښې يواځې امام شافعي رحمه الله او دهغه اصحابو داموقف اختيار کړی دی ، البته په روستنو علماو کښې د مؤلف په څير شيخ ابن باز رحمه الله او نورو علماو هم د دې موقف د مشروعيت او استحباب قائل دي : علامه شوکاني هم دې موقف طرف ته مائله دي ، او دوي په دې خپل موقف باندې د هغه ټولو حديثونو په عموم باندې استدلال کوې کومو کښې چه په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې د درود ويلو حکم راغلي دی ، دهغوې دجملي څخه په ځنو کښې دلمانځه ذکر هم راغلي دی ، دوې وايي چه په دې حديثونو کښې د لمړي او اخرني تشهد هيڅ فرق او قيد نشته ، نو ددې وجې نه دا حکم دواړه تشهدو ته شامليږي ، همداوجه ده چه حافظ صلاح الدين يو سف حفظه الله په خپل تفسير کښې هم دې ته واجب ويلي دي ، ليکن د تحقيق دمخې نه د اموقف مرجوح دی ، وجوب خو لا ليري خبره په استحباب باندې هم دليل نشته ځکه چه دا څومره احديث چه دوې په وجوب باندې ترينه دليل نيسي هغه د دوهم تشهد باره کښې دي ، لکه دراتلونکو حديثونو نه دهغې وضاحت کيږي:

۱ـ عبد الله بن مسعود رضي الله عنهما څخه روايت دى ، فرمايي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته د لمانځه په مينځ او اخره كښي تشهد راو وښود ، همدارنگه فرمايي چه كله به نبي كريم صلى الله عليه وسلم دلمانځه په مينځ يا اخره كښي په تشهد كيناست نو التحيات لله تر اخره پوري لوستلو ، همدارنگه فرمايي چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم به چه كله د لمانځه په مينځ كښي د تشهد څخه فارغه شو ، نو پا به ځيده ، او چه كله به د لمانځه په اخره كښي په تشهد كيناست نو دتشهد نه وروسته به يي دعا غوښتله ، او بيا به يي سلام وگرځولو ،مسند احمد (٤٥٩/١)

داحديث صحيح دى ، دامام احمد شيخ يعقوب بن ابراهيم بن سعد بن ابراهيم الزهري د خپل پلار نه ، هغه د محمد بن اسحاق بن يسار بن خيار ( صاحب مغازي ) نه ، هغه د عبدالرحمن بن اسود بن يزيد بن قيس النخعي نه ، هغه د خپل پلار اسود نه ، اوهغه د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت كړى دى .

او دحديث په دې راويانو كښي هر يو دخپل شيخ سره اتصال ثابت دى ، لكه ځنگه چه حافظ مزي ، او ابن حجر ددي صراحت كړى دى .

او هريو راوي ثقه هم دى ، لكه چه ابن حجر او نورو محدثينو دا وضاحت كړى دى ، يواځي په ابراهيم بن سعد باندې ځني محدثينو كلام كړى دى ، ليكن هغه كلام د قبليدو وړ نه دى ، ځكه چه ددې راوي په اړه حافظ بن حجر په تقريب كښي ( ثقة حجة تكلم فيه بلا قادح ) ليكلي دي ، البته محمد بن اسحاق په تدليس باندې مشهور دى ليكن په دې سند كښي هغه په تحديث باندي صراحت كړى دى ، ددي وجي نه دا سند د هر قسم ضعف او علت څخه پاک دى ، همدا وجه ده چه دا حديث په دې زمانه كښي محدث احمد شاكر صحيح كړى دى "مسند احمد بشرح احمد شاكر "(١٧٨/٦) او

علامه هیثمي هم ددي راویانو توثیق کړی دی،" مجمع الزوائد (۱٤٥/۲)"

۲ـ عائشه رضي الله عنها فرمايي چه نبي كريم صلى الله عليه وسلم به په دوه ركعتو كښي په تشهد باندې زيادت نه كولو . "مسند ابو يعلى "(٤۳۷۳/۷)
ددې حدیث سند صحیح دی ، دا حدیث دحافظ ابو یعلی شیخ ابو معمر اسماعيل بن ابراهيم بن معمر بن حسن الهذلي الهروي د عبد السلام بن حرب الملائي ، او هغه د بديل بن ميسره العقيلي البصري نه ، او هغه د ابو الجوزاء اوس بن عبد الله الربعي البصري نه ، او هغه د عائشه رضي الله عنها څخه روايت کړی دی ، او دا ټول د صحيحينو راويان دي ، لکه څنګه چه علامه هيثمي په مجمع الزوائد (۲/ ۱٤٥) کښي او علامه ابن حجر په تقريب کښي داخبره ذکر کړي ده ، او په دې راويانو کښي هر يو ثقه هم دی ، او د حديث سند متصل هم دی ، لکه څنګه چه حافظ مزي او ابن حجر ددې خبري وضاحت کړی دی ،
ددې وجې نه د مسند ابو یعلی فاضل محقق ددې حدیث سند ته صحیح ویلي دي ، البته د ابو الجوزاء باره کښي امام بخاري ویلي دي ، چه ( في اسناده نظر ) خو امام ابن حبان او ځنې نورو محققينو ددې داسي توجيه کړې ده ، چه امام بخاري په خپل تاريخ کښي د ابو الجوزاء يو ورروايت د عمرو بن مالک نکري په واسطي سره نقل کړی دی ، او دهغې نه وروسته يي ويلي دي چه ( في اسناده نظر ) ځکه چه عمرو دهغه په نيز کمزوری دی ، نو دا جرحه په ابو الجوزاء باندي نه ده ، بلکه دا جرحه په عمرو بن مالک باندې ده .
دامام بخاري ددې قول مطلب دادی ، چه دابو الجوزاء سماع د ابن مسعو او عائشه رضي الله عنهما څخه ثابت نه ده ، د تفصيل لپاره اوګورئ : تهذيب التهذيب (۱/۲۸۳ـ۲۸٤)

ليكن دا قول درست نه دی ، ځکه امام مسلم د عائشه رضي الله عنها څخه د ابو الجوزاء روايت په خپل ( صحيح (٤٩٨) کښي اصالة ذکر کړی دی ګويا چه د ابو الجوزاء سماع د عائشه رضي الله عنها څخه د امام مسلم په نيز ثابت ده ، او همدارنګه دا سند په (سنن ابوداود (٧٨٣)کښي علامه الباني هم صحيح کړی دی ، ګويا چه د خپلي زماني دوه لوی محدثينو په نيز د عدم لقاء قو ل د اعتبار وړ نه دی ، البته دزير بحث حديث باره کښي علامه الباني

په "صفة صلاة النبی " (١٧٠)کښي ليکلي دي ، چه دا حديث منکر دی ، لکه چه ما ددې وضاحت په ضعيفه (٥٨١٦)کښي کړی دی ، د سلسله ضعيفه دغه برخه خو ما ته ملاو نشوه ، خو د علامه موصوف دغه قول ډير زيات دتعجب وړ دی ، ځکه چه د حافظ ابو يعلی د شيخ اسماعيل بن ابراهيم په کوم باندې چه هيڅ قسم جرحه نشته ، له دې څخه وروستو د عبد السلام بن حرب نه تر عائشه رضي الله عنها پوري دا پوره سند په سنن ابوداود (٧٧٦)کښي راغلی دی ، او دهمدې سند په روايت باندې ديو حديث په اړه امام ابو داود صراحت کړی دی ، چه دعبد السلام بن حرب شيخ بديل بن ميسره څخه يو ټولګي د لمانځه داواقعه نقل کړې ده ، ليکن د هغوی په روايت کښي ددې حديث يوبرخه هم ذکر نه ده – دامام ابو داود ددې تصريح سره امام الباني دې حديث ته صحيح ويلی دی ، ګويا چه علامه الباني په نيز د ابوو الجوزاء سماع د عائشه رضي الله عنها څخه ثابته ده ، سربيره پر دې چه د عبد السلام بن حرب زيادت ، زيادت دثقه دی ، او زيادت د ثقه مقبول وي ، بيا څه وجه ده چه په همغه سند سره دمسند ابو يعلی حديث منکر دی ؟

سر ه ددينه چه د عبد الله بن مسعود حديث د هغې قوی شاهد خم دی . والله اعلم بالصواب .

دا دواړه حديثونه ددې وضاحت کوې چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم په لمړي تشهد کښې په التحيات باندې نور زيادت نه دی کړی ، سربيره پر دې چه دا لاندې حديث دعبد الله بن مسعود هم د دواړه تشهدو په فرق باندې دلالت کوې ، هغه فرمايي : چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم به لمړی دوه رکعتو نه بعد تشهد دومره په بيړه کول ګويا چه په ګرم کاڼي باندي ناست دی (ترمذی، ابوداود ،نسائی ) ددې حديث ټولو شارحينو ويلي دي چه مراد ددې حديث نه هغه په لمړې تشهد کښې بيړه کول او دريم رکعت ته پاڅيدل دي ، يعني نبي کريم صلى الله عليه وسلم به په لمړي تشهد کښي دومره بيړه کوله لکه څنګه چه يو کس په ګرم کاڼي باندي ناست وې او په بيړه سره ترينه پاڅيږي ، او دا ښکاره خبره ده ، چه دومره بيړه يو اځې په هغه صورت کښي کيدی شي چه په لمړي تشهد کښي يواځې په التحيات ويلو باندې اکتفا اوکړی شي .

ددې دري مذکوره حديثونو په رڼا کښي داخبره د نمر څخه هم زياته روښانه شوه چه هغه حديثونه چه د درود ويلو حکم په کښې راغلی دی ، هغه ټول د دوهم تشهد سره تړاو لري ، لهذا په هغې سره په لمړي تشهد کښي په درود ويلو سره د استحباب يا سنيت باندې دليل نيول درست نه دې ، وجوب خو لاليري خبره ده ، سره ددينه چه په دغه حديثونه سره د درود وجوب په دوهم تشهد کښي هم داحتمال څخه خالي نه دی ، لکه څنګه چه داخبره مخکښي ذکر شوه ،

داخبر دې بايد هم واضحه وې چه د عائشه رضي الله عنها هغه روايت کوم چه امام بيهقي ، او امام نسائي دهغې تجريح کړی دی چه کله به نبي کريم صلى الله عليه وسلم نهه (۹) رکعته لمونځ د دشپې کولو نو په اتم رکعت کښي به په تشهد کيناست او دخپل رب نه به يي دعاګانې غو ښتلي اوپه نبي کريم صلى الله عليه وسلم

امام شافعي رحمه الله په ( کتاب الام ) [1] کښې ددي ذکر کړی دی ، هغه فرمايي : چه د لمړی قعدې او د اخري قعدې الفاظ يو شان دي ، او په دې کښې اختلاف نشته ، زما د خبرې مطلب دادی چه تشهد او درود يو دبل په ځاې نه کافي کيږي .

٧ - چاچه د سلام ګرځولونه مخکښې ځان بي اودسه کړو نو دهغه لمونځ باطل شو برابره خبره ده که نفل لمونځ وې يا فرض وي -

---

باندي به يی درود هم ويلو او بيا به يی سلام اوګرځولو - دا حديث اګر چه په دې په لمړي تشهد کښې د درود ويلو ذکر راغلی دی ، خو داحديث د دوې لپاره دليل نشي جوړيدلی ځکه چه دا دنفلي لمانځه واقعه ده ، او وپه نفلي لمانځه او فرضې لمانځه کښې ډير فرق دی چه هغه بحث ته ضرورت نلري -

همدا وجه ده چه په دې نفلي لمانځه کښې په اول تشهد کښې د دعا کولو هم ذکر شته ، خو په فرض لمونځ کښې ددې هيڅوک قائل نه دي ، تر دې چه شوافع کوم چه په لمړي تشهد کښې د درود ويلو داستحباب قائل دي هغوې هم دعا ته په دې تشهد کښې مکروه ويلي دي "المجموع " (٢٤٢/٣) ددې وجې نه پاکستاني محدث علامه عطاء الله بهو جياني په دې حديث سره يواځې په نفلي لمانځه کښې په لمړي تشهد کښې د درود ويلو جواز ثابت کړی دی ، د تفصيل لپاره اوګورئ التعليقات السلفية (٢٠٢/١) (١) ٣ (١٨١/١)

۸- ځنې لمونځ کونکې دا غلطې کوې چه په دوه رکعتیز لمونځ کښې لکه د سهار لمونځ او دجمعې دوه رکعته لمونځ او همدارنګه نفلي دوه رکعتیز لمونځ کښې تورک کوې [1] اوهمدارنګه په څلور رکعتیز یا درې رکعتیز لمانځه کښې تورک نه کول -

---

(۱) په دې مسئله کښې همدا موقف حق ته نيژدې دی ځکه چه په جامع ترمذې (۱/ ۲٤۰) کښې دوائل بن حجر رضي الله عنه په حديث کښې راغلي دي چه کله به نبي کريم صلی الله عليه وسلم په تشهد کيناست ښپله چپه ښپه به يي وغوړه وله او ښی ښپه به يي ودروله –

په صحيح صحيح مسلم (۳۸۵/۱) کښې دعائشه رضي الله عنها روايت دی ، چه نبي کريم صلی الله عليه وسلم به هرکله د دوو رکعتو نه وروستو درود لوستلو او ښپله چپه ښپه به يي وغوړه وله او ښي ښپه به يي ودره وله –

په دې کښې صراحت دی ، چه په هر قعده کښې افتراش دی يعني چپه ښپه غوړه ول او ښي ښپه ودرول ، ځکه چه په لمړي روايت کښې افتراش مطلق ذکر دی ، برابره خبره ده چه لمړۍ قعده وې او که اخري قعده وې ، روستو ترينه سلام ګرځول وي اوکه نه وي ددې عام حکم څخه يواځې هغه قعده مستثنی ده کومه چه د ابو حميد ساعدې رضي الله عنه په روايت کښې راغلی ده ، او هغه يواځي د دري رکعتيز او څلور رکعتيز لمانځه په اخره قعده کښې د تورک ذکر دی ، د دې حديث په ځنو طريقو کښې د دې الفاظ چه '' فاذا كانت الجلسة التی فيها التسليم '' څخه په ظاهر کښې داسي معلوميږي ، چه تورک په هر هغه قعده کښې مشروع دی په کومه کښې چه سلام ګرځول وې ، ليکن ددې حديث سياق ددې نفي په قطعي طريقې سره کوې ځکه په دې حديث کښې د لمړۍ قعدې د

اگرچه تورک کول يا هغه پريښودل د لمانځه د صحت سره څه تړاو نلري ، خو دومره ده چه په سنت باندې عمل کول غوره دي ، يعنې درې رکعتيز يا څلور رکعتيز لمانځه په اخره قعده کښې تورک کول سنت دی خو په دې شرط چه په څنگ کښې لمونځ کونکی تنگ نه شې -

٩- په ( التحيات ) کښې د ( عباد الله الصالحين ) څخه مراد د مشهور تفسير موافق هغه خلک دي کوم چه حقوق الله ( د الله تعالى حقونه ) او وحقوق العباد ( د بنده گانو حقونه) پر ځاې کوې ، البته په دې کښې مختلفې درجې دي ، حکيم ترمذي فرمايي : که څوک غواړې چه لمونځ کونکی د دې دعا څخه فائده واخلې

---

کيناستلو طريقه بيان شوه چه نبي کريم صلى الله عليه وسلم به په هغې کښې افتراش کولو ، بيا فرمايى چه "فاذا جلس فى الركعة الآخرة " او د ابوداود (١/ ٤٦٩) په روايت کښې دي چه : "فاذا جلس فى الركعة الرابعة " دحديث داجمله په دې خبره ښکاره دلالت کوې چه هغه تشهد چه په هغې کښې سلام گرځول وي ، ددي نه مراد د درې رکعتيز او څلور رکعتيز لمانځه اخره قعده او ددينه پرته په هيڅ يو حديث کښې دا نشته چه په لمړې تشهد کښې تورک مشروع دى ، نو ددې وجې نه صحيح موقف هغه دى کوم چه مؤلف اختيار کړى دى ، او همدا موقف علامه ابن قيم او ابن باز وغيره غوره کړى دى -

نو باید کوشش اوکړي چه خپل ځان په نیکانو بندګانو کښې شامل کړې ، ترڅو ددې لوې فضیلت څخه محروم نشې -

۱۰- امام قفال رحمه الله په خپله فتاوى کښې فرمایلي دي : چه لمونځ نه کونکى ټولو مسلمانانو ته ضرر رسوي ، ځکه چه هرلمونځ کونکى په تشهد کښې "السلام علینا و علی عباد الله الصالحین"خامخا وایي ، ددې وجې نه لمونځ پرېښودونکى د الله تعالى په حق کښې او درسول الله په حق کښې او همدارنګه د ټولو مسلمانانو په حق کښې کمى کوې ، نو ځکه لمونځ پرېښودل ډېره لویه ګناه ده -

۱۱- ځني خلک په سجده کښې د سجدې دعا پرېږدي او دهغې په ځاې ( اللهم خل عني ) وغیره هغه څه وایي چه دهغې دثبوت هیڅ دلیل نه وي -

۱۲- هغه چاته بد کتل ښوک چه د شهادت په ګوته باندې اشاره کوي –

عَنْ وَائِلِ بِنِ حُجْرٍ رَضِيِ اللّٰه عَنْهُ قَالَ: لانْظُرَنَّ إِلَى رَسُو لِ اللّٰهِ ﷺ كَيْفَ يُصَلِّي؛ فَنَظَرتُ إِلَيهِ فَكَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ....إلي أن قال: ثُمَّ قَعَدَ....ثُمَّ رَفَعَ إِصْبَعَهُ وَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا ،يَدْعُوا بِهَا.

**وائل بن حجر رضي الله عنه فرمايي : ما وغوښتل چه د نبي كريم ﷺ د لمانځه طريقه اوګورم ، ما وليد چه نبي كريم ﷺ تكبير ( الله اكبر ) اوکړو او لاسونه يي پورته کړه ..... فرمايي چه بيا نبي كريم ﷺ كيناست او د شهادت ګوته يي پورته کړه ، او ما ليده چه هغه خوزه وله او په هغې سره يي دعا غوښتله - (١) -**

**دا صحيح حديث دګوتي په خوزولو باندې ښكاره دلالت كوې ، سره ددينه چه دنبي كريم ﷺ ددې فعل بيان په ( يرفع ) دمضارع په صيغې سره شوى دى كومه چه په هميش والي باندي دلالت كوې يعنې تر سلام ګرځولو پوري يي د شهادت په ګوته اشاره كوله دنبي كريم ﷺ لفظ ( يد عو بها ) هم په دې دلالت كوې**

---

(١) سنن النسائى (٨٨٩)، سنن ابوداود (٢٧٦، ٢٧٧).

نو ددې وجې نه دځنې هغه فقهاو قول چه دتشهد ګوته به د نفي په وخت کښې پورته او اثبات په وخت به يې بيرته ښکته کړې د دليل څخه خالی دی -
ددې پورتني تفصيل څخه د هغه چا غلطي معلوميږي څوک چه د هغه چا دلمانځه د بطلان فتوه ورکوې کوم چه په شهادت ګوته باندې اشاره کوې -
په اخره کښې دې لاندې خبروته پاملرنه کول ضروري ده –

١٣- په ځنې رواياتو وکښې راغلي دي چه : رَأَيْتُ رَسُو لَ اللّٰهِ ﷺ وَهُوَقَاعِدٌ فِي الصَّلاةِ.... رَافِعًا إِصْبَعَهُ السَّبَّابَةَ وَ قَدْ حَنَاهَا شَيْئًا وَهُوَ يَدْعُوْ.
ما نبي کريم ﷺ په داسې حالت وليد چه ناست وو ، او دشهادت يې پورته کړې وه ، او لږ يې راښکته کړه او دعا يې غو ښتله . (١)

(١) صحيح ابن خزيمه (٣٥٤/١) كتاب الصلاة: باب حنیٰ السبابة عند الاشارة بها(٧١٦) سنن نسائی (٣٣/٣)كتاب السهو : باب احناء السبابة فی الاشارة سنن ابوداود (٦٠٤/١)تفريع ابواب الركوع والسجود : باب الاشارة فی التشهد (٩٩١)مسند احمد (٤٧١/٣) سنن ابن ماجه (٢٩٥/١)كتاب اقامة الصلاة والسنة فيها :باب الاشارة فی التشهد (٩١١)

ليکن داحديث ضعيف او کمزوری دی ، البته په دې کښې اخره جمله هم نشته - (١) -

زمونږ شيخ علامه الباني رحمه الله فرمايي : چه د شهادت دګوتي راښکته کول ددې حديث نه پرته مونږ په بل حديث کښې نه دې ليدلي او داحديث ضعيف اوکمزوری دی ، نو لهذا دا عمل مشروع نه دی . (٢) -

١۴ - په ځنې روايتونو کښې راغلي دي چه نبي کريم ﷺ د شهادت په ګوته اشاره اوکړه او بيا يي سجده اوکړه ، ددې نه داسې معلوميږي چه د دوه سجدو په مينځ کښې هم د شهادت په ګوته اشار ه کول مشروع دي ، ليکن دا روايت د هغه ټولو روايتونو خلاف دی په کومو کښې چه د سجدې کولو ذکر د اشاري کولو نه مخکې دی ، نو لهذا دا روايت شاذ دی ، په دې بنا

---

(١) ځکه چه په دې کښې مالک بن نمير خزاعې موجود دی ، او ددې په باره کښې امام ابن القطان او امام ذهبي ويلي دي : "لا يعرف حال مالک ولا روى عن ابيه غيره" تهذيب التهذيب (٢٤/١٠) حافظ ابن حجر ورته هم په تقريب کښې "لين الحديث " ويلی په دې بنا باندې علامه الباني په ضعيف سنن ابي داود (٩٦) او په تمام المنة (٢٢٢)کښې دې حديث ته ضعيف ويلي دی

(٢) تمام المنة (٢٢٣)

باندې د دوه سجدو په مینځ کښې د شهادت په ګوته اشاره کول مشروع نه دي -

۱۵ – د چپ لاس په ګوته اشاره کول مکروه دي ، تر دې چه هغه څوک چه دهغه ښي لاس غوڅ شوی وي نو هغه به اشاره نه کوې -

۱٦ - ځنې لمونځ کونکي په تشهد کښې دشهادت ګوته کږۍ کړې او بیا حرکت ورکوې ، او ودا ګمان کوې چه ددې لپاره دلیل د وائل بن حجر رضي الله عنه حدیث دی کوم چه مخکښې ذکر شو ، چه نبي ﷺ خپله ګوته دمینځني ګوتې سره کږۍ کړې وه –

لیکن دا دحدیث غلط مفهوم دی ، بلکه دحدیث صحیح مفهوم هغه دادی چه نبي کریم ﷺ مینځنۍ ګوته د غټې ګوتې سره کړې کړې وه ، او دشهادت په ګوته یې اشاره کوله –

همدارنګه ځنې لمونځ کونکي د شهادت په ګوته باندې د اشارې په وخت کښې داغلطې کوې چه خپله ګوته پورته کوې او بیا یې بیرته ښکته بږدي دا فعل د نبوې طریقې خلاف دی ، بلکه صحیح طریقه هغه داده چه د شهادت کوته به پورته کړې او په همدغه حالت

کښې ورته حرکت ورکول ، برابره خبره ده که پورته وې يا ښکته وي چپ طرف ته مائله وي يا ښي طرف ته ځکه چه تعيين په حديث کښې نشته -

پہ لمانځه کښې د سلام پہ اړه ځنې غلطيانې

سلام ګرځول فرض او دلمانځه په ارکانو کښې يو رکن دی ، ددينه څخه پرته لمونځ نه صحيح کيږي ، او همدا دجمهورو صحابه کرامو تابعينو او روستنو علماو نظر دی ، په دې کښې د ځنې لمونځ کونکو يو شمير غلطيانې په لاندې ډول دي :

۱۷- کله دا هم ليدل کيږي چه ځنې خلک د سلام ګرځولو نه وروسته په خپل ښي لاس باندې ښي طرف ته او په چپ لاس باندې چپ طرف ته اشاره کوې ، صحابه کرامو هم په اول کښې داسې کول خو بيا نبي صلی الله عليه وسلم ددي کارنه منع اوکړه –

(عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ قُلْنَا: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى الجَانِبَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَا لِي أَرَاكُمْ تَرْفَعُونَ أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ؟فتركواالرفع واكتفوابالتسليم ).

جابر بن سمره رضي الله عنه فرمايي : چه مونږ به کله دنبي کريم ﷺ سره لمونځ اوکړو نو دلمانځه په اخره کښې به مونږ ښي او چپ طرف ته سلام ګرځولو او ورسره به مو په لاسونو اشاره هم کوله ، نبي کريم ﷺ چه دا وليدل نو هغه اوفرمايل : چه زه تاسو وينم چه خپل لاسونه د ترنده اسونو دلکيو په شان پورته کوې نو بيا خلکو د لاسونو پورته کول پريښود ل او يوائې په سلام ګرځولو يي اکتفا اوکړه - (۱) -

۱۸- دسلام ګرځولو په وخت کښې لفظ دسلام په درميانه مقدارسره راښکل ځنې لمونځ کونکي د سلام ګرځولو په وخت کښې په لفظ د سلام کښې کښې مد

(۱) صحيح مسلم (۴۳۰).

کوې ، سره ددينه چه په دې کښې مد نه کول مستحب دي ابن سيد الناس وايي چه په دې کښې د علماو اختلاف نشته –

۱۹- دامام ابن تيميه رحمه الله څخه پوښتنه وشوه يو کس دی چه کله په لمانځه کښې سلام ښي طرف ته ګرځوي نو د( السلام عليکم ورحمة الله ) نه وروسته ( اللهم اسئلک الفوز بالجنة ) وايي او چه کله چپ طرف ته سلام ګرځوې ، نو د( السلام عليکم ورحمة الله ) نه وروسته ( اسئلک النجاة من النار ) وايي ايا د امکروه دي ؟

هغه ورته جواب ورکړو چه هو دا مکروه دي ، ځکه چه دا بدعت دی وجه داده چه دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه ددې ثبوت نشته –

سربيره پر دې چه دا د دعا مقرر ول دي په داسې ځاې کښې چه هغه ددې لپاره ځاي نه دی ، او همدارنګه په دې سره د دواړه سلامو په مينځ کښې فصل او جداوالی راځې او دا جداوالی راوستل جايزنه دي ځکه چه دواړه سلامه د يوبل سره بايد متصل وې ددې داسې مثال دی ، لکه چه يو کس سمع الله لمن

Download From; Aghalibrary.com

حمده ووايي او بيا ( اسئلک الفوز بالجنة ) ربنا لک الحمد ، اسئلک النجاة من النار ) وايي وغيره - (۱)-

۲۰- ځني خلک چه په لمانځه کښې بي او دسه شي نو دسلام ګرځولو څخه پرته د لمانځه نه نه وځي او حال دادی چه په دې وخت کښې سلام ګرځولو ته هيڅ ضرورت نشته ځکه چه په بي اودسۍ سره لمونځ باطل شواو سلام ګرځولو ته ضرورت پاتي نشو -

***

*Download From; Aghalibrary.com*

(۱) مجموع فتاویٰ شيخ الاسلام ابن تيمية(۲۲/۴۹۰ـ۴۹۱).